# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

## مباحثات

بروز ہفتہ 28 جون 1997

(بمطابق 22 صفر 1418 ہجری)

جلد 6 — شمارہ 10

سرکاری رپورٹ

مندرجات


| | صفحہ نمب |
| --- | --- |
| 1 ۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ | 1 |
| 2 ۔ معزز اراکین کی رخصت | 2 |
| 3۔ ضمنی بجٹ برائے سال 97-1996 پر بحث | 3 |


114

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز ہفتہ مورخہ 28 جون 1997ء بمطابق 22 صفر 1418 ہجری صبح دس بجے منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، ہدایت اللہ خان چمکنی مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ○ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ○ اَلَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ○ فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ○ وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ ط اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ ○ (پارہ 10 سورہ الانفال آیت 55-58)

(ترجمہ) یقیناً اللہ کے نزدیک زمین پر چلنے والی مخلوق میں سب سے بدتر وہ لوگ ہیں جنہوں نے حق کو ماننے سے انکار کیا، پھر کسی طرح وہ اسے قبول کرنے پر تیار نہیں ہیں خصوصاً ان میں سے وہ لوگ جن کے ساتھ آپ نے معاہدہ کیا، پھر وہ ہر موقعہ پر اس کو توڑتے ہیں اور ذرا بھی خدا کا خوف نہیں کرتے۔ بس اگر یہ لوگ لڑائی میں تمہیں مل جائیں تو ان کی ایسی خبر لو کہ ان کے بعد جو دوسرے لوگ ایسی روش اختیار کرنے والے ہوں تو ان کے حواس باختہ ہو جائیں۔ توقع ہے کہ بدعہدوں کے اس انجام سے وہ سبق لیں گے اور اگر کبھی تمہیں کسی قوم سے خیانت کا اندیشہ ہو تو اس کے معاہدے کو اعلانیہ طور پر اس کے آگے پھینک دو یقیناً اللہ تعالیٰ خیانت کرنے والوں کو پسند نہیں کرتا۔

حی محمد عدیل: جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر ہے۔ میں وجہ تو نہیں جانتا لیکن ہماری
س گیلری میں صرف پانچ افراد بیٹھے ہوئے ہیں اور باقی ہمارے صحافی بھائی یا تو سو
ہے ہیں یا وہ بھی ہماری طرح لیٹ آنا شروع ہو گئے ہیں۔

اب سپیکر: میرا خیال ہے کہ آپ بھی آہستہ آہستہ آ رہے ہیں اور وہ بھی اسی طرح آ
ہے ہوں گے تو اثر تو پڑتا ہے۔ هغه د پښتو مثال دے چه ' خربوزه خربوزے
. گوری نو رنگ پریږدی۔

اب احمد حسن خان: جناب سپیکر! د پښتو په مثال باندے حاجی عدیل نه
ږ هیږی۔ (قہقہہ)

حی محمد عدیل: جناب سپیکر! پشتو کے متعلق جتنا میں جانتا ہوں' اتنا پیپلز پارٹی والے
یں جانتے' ان کا لاڑکانہ مر جاتا ہے۔

اب احمد حسن خان: جناب سپیکر! زه ورسره شرط ترم چه ستاسو د دے
ثال د دوئ تفصیل بیان کری چه مطلب ئے څه دے؟ زه ورله انعام ورکوم۔
(قہقہہ)

اجی محمد عدیل: یہ آپ ہی کے حسب حال ہے۔ (قہقہہ) جناب سپیکر! پشتو غیرت'
نگ' وفاداری اور عزت کا نام ہے' یہ لاڑکانہ والے کہاں جانتے ہیں۔

## معزز اراکین کی رخصت

جناب سپیکر: محترمہ بیگم نسیم ولی خان صاحبہ اور جناب آفتاب احمد خان شیرپاؤ' معزز
اراکین اسمبلی نے 28 جون 1997 کی رخصت کیلئے درخواستیں ارسال کی ہیں' تو Is it the
desire of the House that leave be granted to the Hon'ble Members?

(The motion was carried.)

**Mr. Speaker:** The leave is granted to the Hon'able Members.

## ضمنی بجٹ برائے سال 1996-97 پر بحث

جناب سپیکر: جناب طارق خان سواتی، پلیز- نشته دے جی- Absent دے- مسٹر همایون سیف اللّٰہ خان، پلیز- هغه هم نشته دے- میاں افتخار حسین، پلیز- Not present. مسٹر شیر زمان شیر خان، پلیز-

جناب شیر زمان شیر: بِسمِ اللّٰہِ الرَحمٰنِ الرَحیم- محترم جناب سپیکر صاحب! زه ستاسو ډیر مشکور یم چه ما له مو موقع راکړه- جناب سپیکر صاحب! په فاضل بجټ او ضمنی بجټ باندے خمونږ مشرانو ډیر په تفصیل سره بحث کړے دے- زه به دا اووایمه چه ضمنی بجټ چه کوم پیش شوے دے، په هغے کښې په مشکل حالاتو کښې حکومت ډیره ښه کار گزاری کړے ده او په لږ وخت کښې نے ډیر بچت کړے دے- په فاضل بجټ کښې جناب سپیکر صاحب، څه نوے ټیکس نه دے لگیدلے- د دے صوبے د عوامو د پاره دا ډیر د خوشحالئ او د ترقئ بجټ دے- محترم جناب سپیکر صاحب! زمونږ ډیرو رونړو د اوړو په بحران باندے په دے هاؤس کښې ستاسو په مخکښې خبرے کړے دی، زه خو به دا اووایمه چه د اوړو کوم بحران وو نو هغه محکمه خوراک او انتظامیے ډیر په صحیح طریقه باندے حل کړے دے او خاصکر زه به دا اووایمه چه زمونږ په صوابئ کښې د مشکلاتو باوجود ډیر په صحیح طریقه باندے حل شوے دے- زه به د خپل طرف نه ستاسو په ذریعه باندے محکمه خوراک او انتظامیے له مبارکباد ورکړمه چه په دغه مشکل حالاتو کښې هغوی په دے باندے قابو راوستے دے- جناب سپیکر صاحب! مونږ ته بله ورځ درانی صاحب اووئیل چه زه سپیکر صاحب له دعوت ورکوم چه هغه

اشی او حالات و واقعات اووینی- مونږ هم سپیکر صاحب، تاسو له دعوت رکوؤ خو په هغه صورت کښې چه په کوم وخت کښې صوابۍ-جهانګیره روډ جوړ شی- د هغې نه مخکښې که ستاسو ډیر ضروری کار هم وی نو سوابۍ پله راتګ مه کوئ ځکه چه د صوابۍ-جهانګیره روډ حالات ډیر زیات خراب دی- محترم سپیکر صاحب! د زراعت په باره کښې زمونږ په صوابۍ کښې تمباکو کیږی او نن صبا د تمباکو سیزن شروع دے- ستاسو په ذریعه اندے وزیر زراعت صاحب ته دا خواست کوم چه په دے کمپنو باندے د لږ چیک اوساتی ځکه چه ټوبیکو بورډ او کمپنی کله کله پخپلو کښې ملاؤ شی هغوی بیا خپله من مانی کوی او د زمیندارو حالات چه کوم دے نو هغه خراب وی- نو انشاء الله دے پیرے له کاشت کم دے، کمپنی به زمیندارو له پیسے ورکوی که د هغوی زړه ښه وی او که بد وی- کوم چه د اوړو دا جران تیر شوے دے نو په تیر شوی کال باندے د غنمو د ګرلوُ ټائم تلے وو په چرے وے او راروان کال خلق تمباکو نه کاشت کوی او پکار هم دا دی چه تمباکو کم کړی خو د هغې باوجود جناب سپیکر صاحب، په کمپنو باندے چیک ساتل پکار دی او د کومو ضلعو نه، ضلع صوابۍ، ضلع چارسده، وغیره، مانسهره او داسے په کومو ضلعو کښې چه تمباکو کیږی او د هغې نه ټوبیکو سس کټ کیږی نو هغه د هم په هغه ضلعو باندے خرچ کیږی- چه کومره سس د هغوی نه کټ کیږی نو هم په هغه ضلعو کښې د په تعمیری کارونو باندے خرچ کیږی- جناب سپیکر صاحب! ټوبیکو بورډ جوړ شوے دے خو زمونږ بدقسمتئ ته اوګوره او مرکزی حکومت چه مونږ سره کومره زیاتے کوی، ټوبیکو بورډ جوړ شوے دے، تمباکو صرف په صوبه

سرحد کښې په دے څلورو پينځو ضلعو کښې کيږي، په ټوبيکو بورډ کښې جناب چه څومره د صوبه سرحد ممبران دي نو هغه هومره د پنجاب ممبران دي، هغه هومره د سنده ممبران دي، هغه هومره د بلوچستان ممبران دي چه هلته کښې يو پانړه تمباکو هم نه کيږي- زمونږ په صوبه سرحد کښې پنبه کيږي، وريښے کيږي خو هغوی زمونږ صوبه سرحد له د وريښو په بورډ کښې او د پنبے په بورډ کښې نمائندگی نه ده راکړے- مونږ ستاسو په وساطت باندے صوبائی حکومت ته دا خواست کوؤ چه مرکزی حکومت سره، که چرے دا فرض کوؤ چه د هغوی دلته کښې په ټوبيکو بورډ کښې، د بلوچستان، سنده او د پنجاب ممبران دی نو زمونږ د صوبه سرحد خلقو له د هم دا حق ورکړی چه هلته په کپاس کښې او د وريښو کوم بورډونه چه دی، چه په هغے کښې د صوبه سرحد کسان هم واخلی- محترم جناب سپيکر صاحب! د نوی سال چه کوم بجټ پيش شوے دے، په هغے کښې زمونږ د پيهور هائی ليول کينال د پاره چه کومے پيسے کيښودے شوے دی يا پيهور هائی ليول کينال باندے به کار شروع کوی، نو د هغے د پاره مونږ د وزير اعلیٰ صاحب او د ايريگيشن منسټر ډير مشکور يو چه دوئ دا ونيلی دی چه څخکال به په هغے باندے کار شروع کوؤ- د پيهور هائی ليول کينال سره به په صوابئ کښې او خاصکر په مردان او نوشهره کښې، د نوشهره چه څومره علاقه د صوابئ سره راځی نو تاسو يقين اوساتئ چه هم دغه هومره علاقه ورسره د نوشهره هم راځی څکه چه د نوشهره ډير لوئے جائيداد په دے کښې راځی او دے سره به يو انقلاب راشی- په دے ضلعو کښې به انشاء الله دے سره د زميندارو حالات به ښه شی- مونږ په دے باندے حکومت ته خراج تحسين

پیش کوؤ چه دا منصوبه څخکال شروع کوی- محترم جناب سپیکر صاحب! زمونږ د اوبو کمے دے- بشیر بلور صاحب دے مخکښ ورخو کښ دوره کړے وه او تر څه ډیره حده پورے په هغے باندے کنټرول موندے شوے دے خو چه کوم کلی په تیل کښ دی، د تیل د کلو فصلونه خرابیږی- انشاء الله چه دوئ دا کومه دوره کړے ده د هغے سره خو لږ حالات او واقعات ښه شوی دی- امید دے چه دوئ به دغه شانتے خپل کوشش جاری ساتی نو نور به هم ښه شی- دغه شان که کومے ټرانسفارمرے یا ټیوب ویل مشینان چه سوزیدلے وو او د هغے د پاره دوئ کوشش اوکړو او چه کوم پاتے دی نو انشاء الله د هغے د پاره به هم کوشش کوی او هغه به هم ښه شی- محترم جناب سپیکر صاحب! زمونږ سره یو ډیر لوئے زیاتے شوے دے او هغه دا چه د 1987-88 ء په اے ډی پی کښ زمونږ یو تحصیل هیډ کوارټر هسپتال راغے- هغے له پیسے کیبنودے شوے- ورپسے د پیپلز پارټئ ګورنمنټ راغے او هغه پیسے، هغه سکیم د اے ډی پی نه اووتو- هغه لاړو او په هغه وخت کښ نے د هغے د پاره د سل کناله زمکے هغه Section IV, V and VI شوے دے جی، بیا جی په 1993-94 کښ په دوباره، سپیکر صاحب، په 1993 کښ په هغے باندے دلته په اسمبلئ کښ بحث اوشو او بیګم نسیم ولی خان اووئیل چه د دے د پاره د یو کمیټی جوړه شی چه دا د اے-ډی-پی نه څنګه اووتو او کوم حوا ته لاړو؟ بیا جی د 1993-94 په اے ډی پی کښ تحصیل هیډ کوارټر هسپتال راغے او ورپسے د کم نصیبئ نه بیا د پیپلز پارټئ حکومت راغے او بیا زمونږه هغه هسپتال جی د اے ډی پی نه لاړو او تر اوسه پورے پکښ نشته دے- څخکال خو نوی سکیمونه شته دے نه، د

راروان کال د پاره، تاسو له د خدائے ژوند درکړی، ستاسو په وساطت باندے صوبائی حکومت ته دا خواست کوم چه دا تحصیل هیډ کوارټر هسپتال دوه پیرے د اے ډی پی نه اوتے دے، دا په اے ډی پی کښې واچوئ او بل جناب، دا ډیره د خوشحالئ خبره ده ستاسو په موجودګئ کښې چه مونږ سره دلته د منصف خان جدون یو نعم البدل شته او دا هاؤس هر وختے، خکه چه هغه سه خبرے له پرے نه سودم جی او که زما څه تکی رایادیږی نو هغه دے خائے کښې ما ته مخ راواړوی او زما نه هغه تکی هیر شی خکه چه هغه خپل ژبه کښې لګیا دے څه وائی، نو هغه زما نه هیر شی۔ (قہقہہ) او زه څه خبر یم، زه خو نے خبرے ته پرے نه سودم۔ سپیکر صاحب! ما یا خو د دے خائے نه بدل کړئ----

<u>جناب سپیکر</u>: دا لږ د خان سره یاد اوساتئ، هغه بیا بل وخت کښې به که خیر وی درله ټائم درکړو او اوس به بل چا له ټائم ورکړو، څه مو خیال دے؟

<u>جناب شیر زمان شیر</u>: څه جی؟

<u>جناب سپیکر</u>: ما وئیل دا به بیا یاد کړئ بل وخت کښې----

<u>جناب شیر زمان شیر</u>: نه سر، هغه خو ستاسو په نوټس کښې م صرف خبره راوسته۔ جناب سپیکر صاحب! د سیلابونو زمانه راروانه ده، الله د اوکړی چه سیلابونه نه وی، خدائے د ترینه خلق بچ کړی۔ زمونږ د 94-1993 په اے ډی پی کښې هند بریج راغلے دے او په هغے باندے څه کار شوے دے۔ هر کال د دغے بدری نالے د لاسه ډیر زیات خلق اوبه یوسی۔ تاسو یقین اوساتئ چه بیا په میاشتو، میاشتو خلق په کالا باغ کښې ناست وی او هلته کښې خپل مړی ګوری، نو په هغے کښې ډیر کار شوے دے او لږ کار پاتے دے۔ زما ستاسو په

وساطت باندے حکومت ته دا خواست دے چه هغے کښں دغه لږ کار چه کوم پاتے دے، دے له د فنډز ورکړی- څه معمولی کار پاتے دے، دے له د فنډز ورکړی چه د خلقو دا ضائع کیدل او دا کوم نقصان، خلقو ته چه کوم تکلیف دے او خاصکر د سیلاب په وخت کښں په هغے کښں چه کوم خلق ډوبیږی او کوم خلق ضائع کیږی نو چه د دغے نه مونږ له نجات ملاؤ شی- محترم جناب سپیکر صاحب! زمونږ په بجلئ باندے ډیر بحث اوشو خو زه به صرف ستاسو په نوټس کښں راولم چه د 1987-88، گنی تاسو خیر دے جی د دے هاؤس نه څوک اولیږئ چه د خلقو نه تپوس اوکړی، د 1987-88 کهمبے له تر اوسه پورے، په هغے کښں بیا د 1990, 91, 92, 93 دغه کهمبے ولاړے دی، په سوونو کهمبے ولاړے دی، په چا تار شته، ټرانسفارمر نشته دے او په چا باندے ټرانسفارمر شته دے خو کنکشن نشته دے- چرته ټرانسفارمر شته دے خو اوچتولو والا څوک نشته دے- جناب! په ډیرو کلو کښں په سوونو کهمبے ولاړے دی او هغه خلق خفه کیږی- هغه بلا ورځ په اخبارکښں یو بیان راغلے وو چه ما سره اوس هغه کتمنگ وے، وزیر اعظم له او د بجلئ وزیر ته چا لیکلی وو چه ته راشه او یو شپه دلته کښں اوکړه نو خیر دے مونږ بیا شل کاله بجلی نه غواړو خو یوه شپه دلته زمونږه چه دا کوم ځائے کښں بجلی نشته دے تاسو دلته یو شپه اوکړئ نو بیا مونږ شل کاله بجلی نه غواړو- تاسو یو شپه نه شئ تیرولے او په مونږ باندے کلونه دغه شانتے تیریږی- نو د دے بجلئ د پاره مونږ له څه بندوبست اوکړئ- محترم جناب سپیکر صاحب! زمونږ د واټر سپلائی سکیمونه د 1990 نه دغه شانتے پراته دی- ما د جناب وزیر صاحب په نوټس کښں هم راوستے ده، دغه صرف د بجلئ د لاسه پراته دی- بجلئ والا

سره پیسے محکمے جمع کړے دی او هغوی کله په کنکشن کښې څه لانجه راوباسی او کله څه بهانه کوی۔ فرض کړه حکومت اوغواړی جی او د محکمے په ذریعه باندے دا پرچیز کوی او دوئ دا راوړی نو صرف د کنکشن هغه مسئله ده، د هغے د پاره هغوی چه څه ورکوی محکمه واپیا له، نو هغه د ورکوی۔ دا پرچیز که محکمه واټر سپلائي والا خپله کوی او هغوی د بجلئ دا سامان راوړی، نو زما خیال دے هم په کوم کال کښې چه سکیم مکمل کیږی نو هم په هغه کال کښې به د بجلئ دا مسئله هم ورسره ختمیږی۔ پینځه، شپږ کاله اوشول چه د واټر سپلائی سکیمونه دغه شانتے پراته دی، دغه شانتے جی، په 1987-88 زمونږ په علاقه کښې په جلبئ کلی کښې یو سکول جوړ شوے دے، دوئ وائی چه ایجوکیشن له ترقی ورکوؤ، تعلیم سوا کوؤ، په 1987-88 کښې گرلز مډل سکول جوړ شوے دے بیا ورپسے جناب، په 1992-93 کښې هائی سکول جوړ شوے دے، دواړو سکولونو ته سټاف نشته دے۔ تر اوسه پورے هغه مډل هم دغسے پروت دے، هغه هائی هم پروت دے دغه شانتے۔ افتخار مهمند وزیر تعلیم وو په 1991 کښې، دوئ یو سکول مډل کړے وو په منډه کلی کښې خو هغے کښې له تر اوسه پورے سټاف نشته دے۔ دغسے په انبار کښې یو سکول مډل شوے دے په 1990 کښې، د هغے له تر اوسه سټاف نشته۔ دغه د ایجوکیشن حالت دے۔ ایجوکیشن له ترقی ورکول دی او دا یوه مسئله ده۔ محترم جناب سپیکر صاحب! زه ستاسو ډیر مشکور یم چه تاسو ما له وخت راکړو۔ والسلام۔

<u>جناب بشیر احمد بلور (وزیر آبپاشی)</u>: جناب سپیکر! که ما ته یومنټ اجازت وی نو په پوائنټ آف آرډر، دوئ چه دا کومه خبره کړے ده د بجلو په باره کښې، دا د

دوئ خبره ټهيک ده چه زمونږ د ايريګيشن او پبلک هيلټه انجنيئرنګ ډير زيات ټيوب ويلونه په سن 94-1993 کښې جوړ دی، پيسے مونږ جمع کړے دی خو واپډا والا مونږ ته ټرانسفارمرے او تارونه نه راکوی۔ په دے لړ کښې ما فيډرل منسټر، چودهری نثارته خط ليکلے وو او هغوی د خط جواب هم ما ته راکړے وو چه انشاء الله دے کال کښې به مونږ تاسو ته دغه درکړو خو د دے باوجود دوئ ما سره سحر په دفتر کښې ناست وو او کومه خبره چه دوئ اوکړه نو دا پروپوزل ما نن حکومت ته واستولو نو پکار ده چه دا ډيپارټمنټ د پخپله پرچيز کوی او خالی هغه ليبر چارجز ورله ورکړئ او واپډے والا صرف په دے باندے کار اوکړی نو دا انشاء الله زه دوئ ته يقين دهانی ورکوم چه که دا پاليسی انشاء الله پاس شی نو دا زر تر زره به مونږ دوئ ته بندوبست اوکړو۔

جناب سپيکر، جناب طارق حميد خان۔

ملک جهانزيب، پوائنټ آف آرډر باندے جی يوه خبره ما کوله۔ پوائنټ آف آرډر۔

جناب سپيکر، جی۔

ملک جهانزيب، جی يوه ډيره غټه مسئله جوړه ده مونږ ته د دير د ايف ډی سی والا چه اوس هم د هغوی يو فوج راغلے دے او په ايم پی اے هاسټل کښې ما ته ناست دی او بهر هم ئے کسان ولاړ دی۔ د حکومت دا يوه پاليسی وه چه دا کوم ملازمين مونږ فارغ کوؤ نو دوئ ته به ګولډن هينډ شيک ورکوؤ او د څلورو مياشتو تنخواه به هم ورته ورکړے کيږی۔ اوس زمونږه د هغه کسانو دا مطالبه هم ده چه دا تقريباً څه سينتيس کروړ روپے سيکرټری فارسټ د

هغوی د اکاؤنټ نه ایستل غواړی او دغه خلقو ته خدشه ده چه که چرے دا پیسے او ویستلے شوے نو دغسے دا معامله به درګز رشی او مونږ ته به----

جناب سپیکر، تاسو په دے باندے یو کال اټینشن نوټس ولے نه ورکوئ؟ دا خو په پوائنټ آف آرډر باندے تاسو خبرے اوکړئ او بس۔ حقیقت دا دے چه زه خو او رمه، ستاسو مسئله اورمه -----

ملک جهانزیب، ښه جی۔

جناب سپیکر، په دے څه د رولنګ ورکولو ضرورت ځکه نه پیښیږی چه څه Procedural irregularity نه ده۔ نو د دے په ځائے ښه به دا وی چه تاسو پرے یو کال اټینشن نوټس داخل کړئ۔ مونږ به ئے راولو، تاسو پرے پورا خبرے اوکړئ، دا به ښه وی او څوک به ئے جواب درکړی درته۔ د پوائنټ آف آرډر جواب خو به زه درکو مه، دوئ خو به نه درکوی۔

جناب احمد حسن خان: زه به ئے انشاء الله تعالیٰ د کال اټینشن په سلسله کښ امداد اوکړمه خو چه تاسو ورسره بیا مهربانی اوکړئ۔ دا سوشل فارسټری والا او ایف ډی سی والا، دا په درخټونو کسان راغلی دی او ده له خو باالخصوص راځی او کښینی او ورته وائی چه ته د ټریژری بنچز سړے یے، نو دا به ټهیک خبره وی چه بیا به پرے صحیح خبره اوشی۔

جناب سپیکر، احمد حسن خان! خبره دا ده چه زه خو دا وایمه چه -----

جناب نجم الدین: سر ! زما په دے باندے یو کال اټینشن نوټس دے ستاسو سره او تحریک التواء هم پروت دے، نو زما دا عرض دے چه په دے پرائیویټ ممبرز دے باندے به دا ډسکس کړو جی۔ حقیقت دے، دوه، دوه نیم زره خلق راوتی دی او دا حال زما د حلقے دے۔

جناب سپیکر، تاسو نے یاد کړئ، تاسو نے یاد کړئ- پرائیویټ ممبرز دے نه نے یو دوه ورځے مخکښ یاد کړئ، دا به ضروري وي-

جناب نجم الدین، بالکل جي، هغے کښ شته دے- ما پرے تحریک التواء هم پیش کړے دے او کال اټینشن نوټس م پرے هم داخل کړے دے-

جناب سپیکر، خټک صاحب-

ملک جهانزیب، په سات تاریخ د جلسے او د جلوسونو پروګرام دے- د جلسو او جلوسونو پروګرام دے جي او هم په دے سلسله کښ رارواں دي-

جناب سپیکر، ما سیکرټري صاحب ته اوونیل، هغه به نے راولي- کال اټینشن کښ به نے راولي او بیا پرے تاسو خبره اوکړئ- په پوائنټ آف آرډر خو به نے زه جواب درکومه، زه به څه Ruling ورکومه؟ او تاسو له بل څوک په هغے جواب نشي درکولے- تهینک یو- مسٹر طارق حمید خان-

جناب طارق حمید خټک، جناب سپیکر صاحب! زه ستاسو ډیر مشکور یم چه تاسو ما ته وخت راکړو- دا بجټ چه کوم پیش شو او ورپسے ضمني بجټ هم پیش شو، نو یو طریقه کار وي، اپوزیشن والا وائي چه دا بجټ ښه نه دے شوے او اقتدار والا وائي چه دا ډیر ښه بجټ دے- زما په خیال که سړے لږ غونډے د عقل مالک وي او لږ ډیر فهم لري نو حقیقتاً په داسے حالاتو کښ چه په کوم وخت کښ دا بجټ پیش شوے دے، د ملک او قوم چه کوم حالات وو نو محترم سپیکر صاحب، که زه یو داسے مثال ورکړم چه داسے وخت کښ دا حکومت برسر اقتدار راغلے وو او په داسے وخت کښ دا بجټ پیش شوے دے چه که مونږ اوګورو نو دا یو مکان وو او د هغے چهت سوړے وو، کهړکۍ پکښ نه وے، دروازے نے ماتے وے، فرشونه نے مات وو، په داسے

حالاتو کښی داسے بجټ، دومره ښائسته بجټ او دومره ښکلے بجټ زما په خیال هیڅ څوک هم نشی پیش کولے. دا کوم بجټ چه دے ټانم پیش شوے دے۔ (تالیاں) دلته کښی زمونږ رونړو خبرے پرے اوکړے۔ وائی چه دا ډیویلپمنټل بجټ نه دے۔ تیر هم بجټ پیش شوے وو، هغه تقریباً د لس اربه روپو یا د اته اربه روپو ډیویلپمنټل بجټ وو خو آخر کښی دوه یا درے میاشتے پس، که پی اینډ ډی اوکتلے شی یا فنانس کښی، نو په هغے باندے ستر یا اتی پرسنټ کټ لګیدلے وو۔ نو په دے وخت کښی هم دا بجټ پیش کیدے شو۔ حقائقو ته به ګورو، حقیقت ته به ګورو او دا حقیتاً یو صحیح بجټ دےاو په دے کښی ما ته داسے یو محکمه نه ښکاری چه هغوی ته فنډ نه دے ملاؤ شوے۔ ایریګیشن ته ښه صحیح ملاؤ شوے دی۔ که پیهورلیول کینال دے نو هغے ته تقریباً انشاء اللّٰه الرّحمٰن اتهاره کروړ روپے ملاؤ شوے دی۔ نوښار ضلع، مردان ضلع او صوابیٔ ضلع به ترینه که خیر وی، سیراب کیږی۔ دغسے که مونږ ګومل زام ته اوګورو نو که خیر وی او دا جوړ شی نو لکهونه ایکړه زمکه به د دے نه سیراب کیږی۔ دغسے سکولونو ته فنډ ملاؤ شوے دے۔ پبلک هیلتھ ته ملاؤ شوے دے، هیلتھ ته ملاؤ شوے دے۔ داسے مد پاتے نه دے چه ورته فنډونه نه وی ملاؤ شوے۔ فنډونه ورته ډیر زیات ملاؤ شوے دی او انشاء اللّٰه الرّحمٰن کار به دے باندے برابره وی۔ جناب سپیکر صاحب! دلته کښی زمونږ په انډسټریز باندے خبره اوشوه۔ زمونږ په صوبه کښی انډسټریز د نیشت برابر دے، که څه دی نو هغه Sick units دی او یا خو هډو شته دے نه۔ نو زما دا تجویز دے چه زیات نه زیات انډسټریز اولګی۔ ترکومه چه انډسټریز نه وی لګیدلے نو تر هغے پورے زمونږ د روزګار دا مسئلے نه شی ختمیدے

خکه چه ډیره زیاته بے روزګاری ده او صرف او صرف انډسټریلائزیشن دا به زمونږ دا بے روزګاری ختموی۔ دغسے جناب سپیکر صاحب، ایګریکلچر باندے هم، هغوی ته هم ډیرے ښے پیسے ملاؤ شوے دی۔ څنګه چه ما مخکښ اوونیل چه دا دوارہ سکیمونه شول۔ د دے نه علاوه نورے داسے یونټے دی چه هغے ته پیسے ملاؤ شوے دی او که خیر وی پچهتر پرسنټ مونږ روزګار په ایګریکلچر باندے دے نو انشاء اللهٔ الرحمٰن که ایګریکلچر Improve شو نو زمونږ روزګار به هم ورسره بړهاؤ شی او دا صوبه به ترقی اوکړی۔ خاصکر د غنمو خبره به مونږ اوکړو یا د اوړو خبره به اوکړو چه دا کوم کمے دے نو چه دا منصوبے جوړے شی نو زمونږ د اوړو دا مسئله پرے حل کیدے شی۔ دلته په هیلته باندے خبره اوشوه۔ هسپتالونه، حقیقت دا دے چه د هسپتالونو هغه پوزیشن نه دے چه کوم پکار دے۔ ډاکټران صاحبان، زه په ډیر افسوس سره خبره کوم، زما په خپله حلقه کښ په بی ایچ یوز کښ ډاکټران دی چه هغوی تر لسو، یولسو بجو پورے خپل کلینک کوی او د هغے نه پس لاړ شی هسپتالونو ته۔ چه هلته لاړشی نو وانی چه مریضان نه راځی۔ دا حو د پښتنو وطن دے، سحر په اووه، اووه نیمے بجے مریضان تلے وی، هغوی تر اتو، اته نیمے بجو پورے ناست وی، تر نهه پورے ډاکټر صاحب لاړ نه شی، میډیکل ټیکنیشن ورته څه چټ ورکړی او په هغے هغوی راځی نو ټوله ورخ په کلینک کښ ناست وی۔ د دے نه علاوه د ایجوکیشن هم دغسے حال دے۔ سکولونه بالکل شاړ دی۔ داسے سکولونه زما په خپله حلقه کښ شته چه پکښ د بچو د پاره ټاټ نشته دے، د استاذ د پاره پکښ کرسئ نشته نو ایجوکیشن ته خو فنډ ملاؤیږی خو که هغه صحیح استعمال شو او پکار ده چه

دا لړ په صحیح طریقه باندے استعمال شی چه کم از کم دا Basic necessity د ایجوکیشن پوره شی- بے روزګاری زمونږ د صوبے یوه ډیره غټه مسئله ده- د دے د پاره زه به بیا هم دا اووایم چه انډسټریلائزیشن او یا داسے نور وسائل پکار دی چه مونږ داسے Develop کړو او د بے روزګارئ دا مسئله حل کړو- دلته کښ چه کوم زمونږ دے صوبے ته ترقی ورکولے شی هغه پاؤرجنریشن دے- ما هغه بله ورځ یو ډیر پوهه سړی سره خبره کوله، هغه ما ته اوونیل چه که د کالام نه واخلے تر بحرین پورے درے، څلور پاؤر جنریشن یونټ اولګی نو کم از کم زمونږ دا صوبه به پرے هم برابره شی بلکه مونږ به نورو صوبو ته هم بجلی ورکولے شو- خاصکر پاؤرجنریشن ته به ډیر زیات اهمیت ورکول پکار وی- د دے نه علاوه دلته کښ په میرټ باندے هم خبرے اوشوے- زه سپیکر صاحب، سحر چه راتلم، دا زمونږ د نوښار د ډی ای او لسټ دے او زما په حجره کښ دوه کسان ناست وو او د خدائے تعالیٰ غریبانان وو، یو راغلو او ما ته نے مبارکی راکړه او ما ته نے اوونیل چه زه په میرټ باندے اوشوم- خکه خو راغلل او د دومره خوشحالئ نه نے وئیل چه میرټ زنده باد- (تالیاں) زه ورته اوخندیدم، ما ورته اووئیل چه یواځے میرټ زنده باد نه بلکه چا چه دا میرټ نافذ کړو، هغه زنده باد- (تالیاں) نو میرټ بالکل ښه شے دے- پکار ده چه په میرټ باندے ښه کارونه کیږی- زمونږ به مخکښ هم دغسے پروګرام وی- دلته کښ سپیکر صاحب، مونږ په رومبی خل چه لاړو نو، په کرپشن باندے هم ډیر خبرے اوشوے، پکار ده چه د دے خو ډیر زیات سدباب اُوشی او پرسنټیج چه په دے کومو محکمو کښ دے، د دے خلاف څه زبردست قسم ته اقدامات پکار دی- داسے یوه محکمه چه په هغے

کښې کرپشن نشته او خاصکر په ایجوکیشن او په هیلتهـ کښې خو کرپشن ډیر زیات دے او دا یوه انسانی مسئله ده۔ سی اینډ ډبلیو، پبلک هیلتهـ، ایګریکلچر، هغه محکمه نشته په صوبو او په مرکز کښې چه په هغې کښې کرپشن نشته۔ د دے خلاف خو یو جهاد پکار دے۔ د دے خلاف سرجری پکار ده او د دے پوسټ مارټم پکار دے۔ (تالیاں) **سپیکر** صاحب! دلته کښې د دے حزب اختلاف د طرف نه خبرے ډیرے اوشوے، زه خو ورپسے خبرے نه کوم خو یو دوه درے خبرے به صرف اوکړم۔ د دے نه مخکښې هم په نوښار ضلع کښې څلور ایم پی ایز دی، دوه د پیپلز پارټۍ وو او دوه د اے این پی وو، دلته زما دواړه رونړه اوس په اسمبلۍ کښې ناست دی، کپ فنډ چه کوم وو، چه کوم د یو ایم پی اے Basic right وو، هغوی ته به نه ملاؤیدل او هغوی ته به نے وئیل، میاں صاحب، میاں مظفر شاه صاحب به دلته کښې ناست وی، هغه ته به نے وئیل چه ته سی ایم ته لاړ شه او هغه نه لیکلی راوړه ــــــ

<u>جناب محمد اورنګزیب خان</u>: او ما ته نے وئیلے وو۔

<u>جناب طارق حمید خټک</u>: او، دلته اورنګزیب خان ناست دے او دلته کښې دوئ ته خو هر یو شے ملاؤیږی۔ دے پیرے له چه دا تاسو اپوزیشن ته خاصکر څومره وخت ورکړلو، پکار خو دا ده چه دوئ خو ستاسو مشکور وی۔ د میډیټ، میډیټ خبرے نے کولے، میډیټ خو ټول د دوئ خلاف تلے دے۔ حقیقت به وایو د دوئ څه وو؟ د دوئ کارکردګی څه وه؟ په نوښار کښې هغه بله ورځ ما د ډپټی کمشنر نه تپوس اوکړو د منرل ډیپارټمنټ څه نیلامی وه، ما ترے تپوس اوکړو چه د دے به څنګه طریقه کوئ؟ نو هغوی اووئیل چه دا به آکشن کوؤ۔ ډپټی کمشنر ما ته پخپله خبره اوکړه، هغه وئیل چه ما یوه پالیسی

اناؤنس کړے وه چه د خوړونو دا ټهیکے، نو هغه اووے ما ته سابقه منسټر صاحب چه اوس په دے اسمبلئ کښ نشته دے، ټیلیفون اوکړو چه دا به ته زما کسانو ته ورکړے نو ما ورته اووے چه دا زه نه شم کولے، نو په دریمه ورځ ئے ما ته لیټر راواستولو چه ستا نه دا اختیار لاړو او دا به اوس ډائریکټر انډسټریز کوی- په بیس هزار روپئ باندے تیر کال ټهیکه نیلام شوے وه او هم هغه ټهیکه هغے ټهیکیدار دے کال په چه لاکه روپئ پرون نه هغه بله ورځ واغستله- (تالیاں) پکارخو دا ده چه د دے دِ احتساب اوشی، د دے دِ تحقیقات اوشی چه تیر کال په بیس هزار روپئ ئے یو سړے اخلی او په دے کال ئے په شپږ لکهه روپئ اخلی- یواځے یوه ټهیکه نه، اووه اته ټهیکے ئے واغستلے- پچاس، ساټه لاکه روپئ خو یواځے دلته کښ راوځی- دغسے خمونږه د نوښار ډسټرکټ کونسل فنډ وو، شپږ کروړه روپئ په تیر کال کښ د پیپلز پارټئ دوو ایم پی ایز ویستلے دی او خمونږ دے دوو ممبرانو ته ئے یوه روپئ هم نه ده ورکړے- د دے دِ هم احتساب اوشی، د دے دِ هم تحقیقات اوشی- دغسے په ایجوکیشن کښ، زما سره لسټ پروت دے، صرف زما په حلقه کښ 78 Un-trained PTC Teachers اوس دے کینړ ټیکر حکومت ویستلی دی او 76 Un-trained PTC Female Teachers ئے ویستلی دی، هغوی اوس ما ته په سر ناست دی چه ته مونږ بهرتی کړه- زه ورته وایم چه تاسو Un-trained یئ- هغوی وائی چه مونږ سابقه وزیر صاحب بهرتی کړے وو او ته مونږ بیا اولګوه- ما ورته اووے چه اوس خو دا د میرټ قصه ده- هم دغه خبره مے ورته کړے وه چه دا کومه اوس زما لاس کښ ده- نو د دے ټولو د تحقیقات اوشی، د دے د احتساب اوشی او زه خو وایم چه اول

د زمونږ احتساب اوشی۔ دا کوم دلته چه ممبران دی۔ د تیرے اسمبلئ د اوشی۔ په 1990 کښ هم زه ایم پی اے ووم، د هغے د احتساب اوشی۔ چه د کوم وخت نه ئے را اخلی خو دا احتساب پکار دے۔ د دے ملک پوسټ مارټم پکار دے هله به هر شے سمیږی، ګنی داسے نه سمیږی۔ زه ستاسو ډیر زیات مشکور یم۔ والسلام۔ (تالیاں)

Mr . Speaker: Sardar Muhammad Mushtaq Khan , MPA , please . (Absent). Mr. Baz Muhammad Khan, MPA, please.

جناب باز محمد خان: ما خو جی نوم نه دے درکړے د دغه د پاره۔

جناب سپیکر: داسے کار اوکړئ تاسو دا خبره چه کوئ که څه خبره کوئ نو ښه ده کنه خو دا مه وایئ چه نوم مونږ نه دے درکړے، ولے چه نوم ستاسو ما له ډپټی پارلیمانی لیډر راکړے دے۔

جناب بشیر احمد بلور (وزیر آبپاشی): پوائنټ آف آرډر۔ سپیکر صاحب! معافی غوارم چه دا زمونږ ممبران صاحبان، چه تاسو ټائم نه ورکوئ نو خفه کیږی او چه مونږ ورله ټائم اوږد کړو نو بیا دوئ خبرے نه کوی۔ پکار ده چه خبرے خو داوکړی کنه۔

جناب باز محمد خان: زه معافی غوارم چه ما تاسو ته خبره اوکړه خو بهرحال ما خو څه تیاری نه ده کړے چه زه په دے بجټ باندے څه خبره اوکړم۔ زه ستاسو ډیره شکریه ادا کوم چه تاسو ما له وخت راکړو۔

جناب نجم الدین: پوائنټ آف آرډر، سر۔ زما مطلب دا دے چه دوئ ته په بجټ باندے څه معلوم نه دی نو څه اووائی؟ په بجټ کښ څه شته دے نه، د دوئ سره څه دی؟ سر! زما سره یو زیاتے شوے دے، زما دا تقریر به د لږ

روستو کړے وے او یا ما له بیا ټائم راکړئ۔ دوئ ډیرے خبرے اوکړے چه جواب نے ورکړم۔

Mr. Speaker: Mian Muzafar Shah. Absent. Janab Bashir Khan Uma rzai, please.

جناب پیر محمد خان، سپیکر صاحب! تاسو میاں مظفر شاه خان اووے نو "میاں" او "خان" دواړه یو ځائے نه وی یا میاں صاحب وی او یا خان صاحب وی۔

جناب محمد بشیر خان، ستا د دے پیرزوئے جی ډیره ډیره مننه۔

جناب سپیکر، ارباب ایوب جان خان۔

ارباب محمد ایوب جان، جناب سپیکر صاحب! زه ستاسو ډیر زیات مشکور یم چه تاسو ما ته ټائم راکړو او موقع راکړه چه زه د خپل خیالاتو اظهار اوکړم۔ خو ښکه چه باز محمد خان اووے چه ما ته خو پته نشته، نو پکار دا ده چه کوم لسټ تاسو ته درځی یا حاجی عدیل صاحب چه کوم نومونه ورکوی چه مونږ ته اووائی چه مونږه هم تیاری کوؤ دے سپلیمنټری بجټ ته یا بجټ ته۔ جناب سپیکر صاحب! سپلیمنټری بجټ دے ځل چه کوم پیش کړے شو، هغه ښکه ښه دے چه زه دلته د 1985 نه تر 1997 پورے ممبر یمه او تقریباً څه باره، چوده سپلیمنټری بجټ څما مخامخ پاس شو خو جناب سپیکر صاحب، هر یو سپلیمنټری بجټ کښې د اخراجاتو اضافه کیږی' جناب سپیکر صاحب، دا رومبئے ځل دے چه دے سپلیمنټری بجټ کښې تقریباً 6.526 نه کمی راغله او 2.800 ته تقریباً څه ایک ارب او دس کروړ روپو نه خرچه کمه شوه۔ جناب سپیکر صاحب، دا څه دی؟ This is a good financial management, this is a good governance ښکه جناب عالی، که تاسو Inflation rate اوګورئ،

Devaluation rate ته اوګورئ نو دا يوه ضروري خبره وه چه زمونږ سپلمنټري بجټ کښې اضافه شوے وے خو

It is for the first time in fifty years Mr. Speaker Sir, the Leader of the House has shown to the people that we have also got the capability of good financial management. So this is the proof of good financial management.

چه مونږ په دے درے څلور مياشتو کښې جناب عالي، تقريباً ايک ارب او دس کروړ روپو په سپلمنټري بجټ کښې کمے راوستے دے۔ جناب سپيکر صاحب، 1985-86 کښې چه کله مارشل لاء لرے شوه نو زمونږ د دے هاؤس يو روايت وو يا زمونږ د ممبرانو دا خواهش وو چه ضلعے جوړے شي زمونږ صوبه سرحد کښې۔ کوم وخت چه کوم ډيمانډ وو هغه خو به کيدو خو هغے وخت کښې ايکسائز اينډ ټيکسيشن او ريونيو منسټر چه به کله هر يو ضلع چه به حکومت منظوري ورکوله نو تحصيل نه چه به ضلع جوړيده، نو بيس کروړ روپے هغے وخت کښې په دے باندے به لګيدے۔ هغه روايت تر اوسه پورے روان دے۔ دا ړومبنے سپلمنټري بجټ دے چه مونږه جناب سپيکر صاحب، تاسو هم اوګورئ دا نوے ضلعے او سب ډويژنونه او ډويژنونه چه جوړيږي نو په دے باندے بے تحاشه پيسے لګي جي نو دا ړومبنے ځل دے چه سپليمنټري بجټ کښې هغه Non-developmental expenditure چه دي، هغه Reflect شوي نه دي دلته۔ ځکه جناب سپيکر صاحب، تاسو زمونږه مشران يئ او د علاقے په سطح هم ته زما مشر رور يے، يو Elected Member يے جناب سپيکر صاحب، ته And you are a popular man in your own area,

به تحصيل غواړے، ته به ضلع غواړے که ته به د خپلے حلقے د پاره به يو هسپتال غواړے، يو ټيکنيکل کالج به غواړے، يو باړے باندے به پل غواړے؟ کوم چه تا شروع کړے دے .And it is very good د ضلع نه هغه پل ښه دے چه د خلقو پرے آمد و رفت لګيا دے کيږی حالانکه ګزشته دورکښ يو ممبر وو نو هغه خپل کورته په څلور کروړه روپو باندے، صرف خپل کورته يو پل جوړ کړے وو خو زه دلته ړومبنی ځل باندے سپلمنټری بجټ کښ، دا ړومبنے ځل دے چه Non-developmental expenditure اضلاع د پاره يا سب ډويژنو د پاره نه دی ايښودے شوی۔ جناب سپيکر صاحب! زما ډيرو رونړو په دے باندے اعتراض اوکړو چه موني 250 million rupees د سټيټ بينک نه Overdrafting کړے دے، جناب، دا خو يو Soft loan وو او د مارک اپ هغه شرح نه وه او حالانکه دا خو يو نيچرل خبره ده چه کوم موني ته اين ايف سی ايوارډ يا بل څه راځی نو هغه دومره ليټ راځی چه We have to take overdraft from the State Bank. خو هغه Overdrafting چه کوم شوے دے، هغه دومره دغه نه وو جی، دويم نمبر ګزشته اے ډی پی تاسو اوګوریٰ، دلته ډير زمونږ دوستان ناست دی، تير شوی دورکښ چه بجټ پاس شوے دے يا اے ډی پی کښ Reflect شوے دے، هاؤس چه کوم بجټ پاس کړے دے نو بجټ کښ يا اے ډی پی کښ مثلاً سل سکيمونه به وو نو د هغے د پاره به هغه پيسے کيښودلے شوے چه دا دومره دومره پيسے دی خو چه کله به بجټ اجلاس ختم شو نو د سل سکيمونو په ځائے به دوه سوه، درے سوه، پنځه سوه سکيمونه شروع شو نو د هغے نتيجه به جناب سپيکر صاحب، څه وه؟ پيسے خو هم هغه هومره وے، پيسے خو که فرض کړه ته د دس ارب

روپو اے ډی پی جوړوے او هغے Against ته سل سکیمونه کوے او بیا هم هغه دس ارب روپو باندے که ته پینځه سوه یا شپږ سوه سکیمونه جوړوے سپیکر صاحب، نو هغه سکیمونه به څومره ټائم اخلی؟ You will divide it five hundred time more نو هغه سکیم چه کوم په درے کالو کښې به Complete کیږی هغه سکیم تقریباً لس کالو کښې به Complete کیږی۔ دے د پاره چه د صوبے ترقی چه په درے کالو کښې به سر ته رسی، هغه Linger on شوه Fourteen years and twenty years ، دے خله For the first time که تاسو دا ضمنی بجټ اوګورئ جناب سپیکر صاحب، نو دے کښې د N.F.C. د Recommendations and suggetions لاندے دا بجټ محدود کړے شوے دے۔ چه دے خل مونږه کوم بجټ پاس کړو او چه کوم سکیمونه بجټ کښې Reflect شوی دی، هم هغه به کیږی، Un-approved ADP Schemes به نه کیږی، ولے جناب چه بیا صوبے ته نقصان رسی۔ نو دا یو ډیره ښه طریقه ده ولے چه جناب سپیکر، چه څومره د سړی څادر وی هم هغه هومره به یو سړے خپلے پښے غزوی۔ دے ایوارډ کښې زه هاؤس ته، آنریبل ممبرانو ته او لیډر آف دی هاؤس ته مبارکبادی ورکوم چه تا یو سپلیمنټری بجټ، دلته کښې زما نه فګرز هیر شول، سپلیمنټری بجټ کښې هغوی Quote کړی دی خو د N.F.C. recommendations د لاندے دا بجټ منظور کړے دے او هغے سره زمونږ دا امید جوړ شو چه څومره زمونږ څادر دے، هم هغه هومره به مونږ پښے غزوؤ او انشاء الله تعالیٰ زمونږ چه کوم کارونه دی، هغه به بروقت کیږی۔ آخر کښې جناب عالی، یوه خبره ده چه د اوړو کرائسس وو او دے کښې زمونږ سپلیمنټری بجټ باندے ډیر زیات بوجھ راغلے دے۔ تاسو که

دے سپلیمنٹری بجٹ کښې اوګورئ نو مونږه پنشن ورکوؤ، تنخواګانے ورکوؤ یا د غنمو سبسډی یا د غنم Carriage هغه هم ورکوؤ خو دے خله جناب سپیکر صاحب، آیا بحران چه راغلے وو که دا بحران نه وے نو د ایک ارب، دس کروړ روپو مونږه چه کوم کمے راوستے وو دے خراب حالاتو کښې نو زما دا امید وو چه زمونږه دا بچت به په سپلیمنټری بجټ کښې تقریباً ډیړه، دو ارب روپو نه راغلے وو۔ جناب سپیکر صاحب، زه ستاسو ډیر زیات مشکور یم او زه ستاسو شکریه ادا کوم چه تاسو ما ته موقع راکړه۔

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکر صاحب! ارباب صاحب ډیر زیات قابل سړے دے خو د تیر حکومت کارکردګۍ باره کښې ئے مونږه پوهه نه کړو چه هغه ښه وه که بده وه۔

جناب سپیکر، جناب محمد ایوب خان آفریدی، پلیز۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی، شکریہ۔ سپیکر سر! میں آپ کا بے حد مشکور ہوں۔ جناب سپیکر! جہاں تک ضمنی بجٹ کا تعلق ہے، اس سے پہلے جو بجٹ پیش کیا گیا 1997-98 کا، اس سے لیکر ضمنی تک بجٹ جو کارروائی ہوتی رہی ہے، اپوزیشن کے بھائی این ایف سی ایوارڈ پر زیادہ بحث کرتے رہے ہیں اور بجٹ پر کم۔ آج محسن علی خان صاحب بھی نہیں ہیں اور میرا خیال ہے کہ انہوں نے چھٹی کی درخواست بھی نہیں دی ہے۔ آپ نے جو مہربانی کی ہے اپوزیشن کے بھائیوں پر، تو اس کیلئے ہم آپ کے مشکور ہیں۔ آپ نے اس -----

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر ہے۔ جناب سپیکر! جب ہمارے معزز اراکین آپ کے اور مقرر کے درمیان سے گزرتے ہیں تو ایک طریقہ کار کے، اس کی ممانعت ہے اور دوسرا یہ رولز کے بھی خلاف ہے تو اس سلسلے میں عرض ہے کہ اگر آپ

سب کو ایک دفعہ پھر یاد دلا دیں تاکہ معزز اراکین تھوڑا احتیاط سے کام لیں۔ شکریہ۔

جناب سپیکر: میرا خیال ہے کہ میں نے کل بھی یاد دلایا تھا۔ اب روزانہ' روزانہ هغه د فارسئ مثال ما له نه راځي، هغه پریس والا د پوره کړي، عاقلانو د پاره یوه اشاره هم کافي وي، زه نور څه اوکړم؟ د دے د پاره زه نور څه نه شم وئیلے۔ بار بار د رولز خلاف ورزی کول، خیر بهرکیف بعض وخت ضرورت اهم وي نو د هغے څه ممانعت نشته خو هسے پکار ده چه د هاؤس Decorum په ښه طریقے سره، صرف دا نه ده چه هاؤس کښې د خوشګوار ماحول هم وي، یو بل به Accommodate کوؤ، خو د رولز احترام ستاسو ښائست دے۔ ستاسو د ممبرانو صاحبانو ښائست دے۔ تاسو د خپل هاؤس Decorum پخپله اوساتئ۔

Thank you very much.

جناب محمد ایوب خان آفریدی: سر! یہ اس صوبے کی روایت بھی ہے کہ ہمیشہ مشران، مشرجو ہوتا ہے وہ کشر کا خیال رکھتا ہے۔ آپ اس ہاؤس کے Custodian ہیں' آپ نے اپوزیشن کو اس لحاظ سے کہ ان کی تعداد کم ہے' وقت بھی دیا لیکن میں یہ کہوں گا کہ جو حقائق تھے اس بجٹ کے حوالے سے' اگر وہ اس کی تعریف بھی کر دیتے تو میرے خیال میں بہتر ہوتا۔ این ایف سی ایوارڈ کی یہاں پر بات ہوئی ہے تو میں ضرور یہ جسارت کروں گا کہ 1973 کا آئین جس وقت بن رہا تھا اور جسے متفقہ آئین کہتے ہیں تو میں اس حوالے سے خان عبدالولی خان صاحب کو بھی مبارکباد پیش کرتا ہوں کہ جنہوں نے پہلی دفعہ جب آئین بن رہا تھا تو صوبائی حقوق کی بات کی' اسے آئین میں Endorse کرایا اور اس کے بعد انہوں نے دستخط کیے۔ 1985 میں جب الیکشن ہوئے تو انہیں بھی غیر جماعتی الیکشن کہا جا رہا تھا لیکن جب 1973 کا آئین بن رہا تھا تو جس پارٹی کے اس وقت سربراہ وزیر اعظم تھے' اسی پارٹی کی حکومت بھی رہی۔ آج اسی پارٹی کی اپوزیشن نے بجٹ

پرتنقید بھی کی اور زیادہ وقت این ایف سی ایوارڈ پر لگایا لیکن وہ این ایف سی ایوارڈ جب ہمیں ملا تو آج اس صوبے میں ایک مظبوط مخلوط حکومت قائم ہے جو اے این پی اورمسلم لیگ کی ہے۔ آج وفاق میں میاں محمد نواز شریف صاحب وزیر اعظم ہیں اور انہوں نے پہلی دفعہ اس صوبے کو 1973 کے آئین کے تحت حقوق دیے۔ این ایف سی ایوارڈ پر ہمارا جو حق تھا، وہ انہوں نے دیا۔ تو میں یہ عرض کروں گا کہ 1973 سے لیکر 92-1991 تک یہ ایوارڈ ہوا اور اس میں میرے ایسے بھائی بھی شامل تھے، جو آج ادھر بھی ہیں اور ادھر بھی ہیں، حکومت میں بھی رہے ہیں اور اپوزیشن میں بھی رہے ہیں لیکن اس وقت نہ ان کو مارک اپ کا خیال آیا تھا، نہ اس رقم کا جو ان کو نہیں ملی۔ جناب والا! اس حکومت کو بنے ہوئے ابھی چار مہینے بھی نہیں ہوئے لیکن اس ضمنی بجٹ میں، 1990 کے بعد میں دیکھ رہا ہوں کہ پہلی دفعہ جو نظرثانی شدہ بجٹ ہے، وہ تخمینہ جات سے ایک ارب، باسٹھ لاکھ روپے کم دکھایا گیا ہے جو اس حکومت کی کارکردگی کی ایک بہترین مثال ہے۔ سر! اس کو دیکھتے ہوئے میرے اپوزیشن کے بھائی یہ بھی بھول گئے ہیں کہ تین ارب، اکتیس کروڑ روپے کی خصوصی گرانٹ وفاقی حکومت نے دی ہے اور انہوں نے اس کا کوئی ذکر نہیں کیا۔ دو ارب، پچاس کروڑ روپے ایک Soft loan ہے اور انہوں نے ایک ارب، اسی کروڑ روپے جو مارک اپ دیا ہے، وہ Loan ہے جو کہ اس شرح پر انہوں نے لیا۔ جناب سپیکر صاحب! انہوں نے تو ملازمین کا جی پی فنڈ بھی نکال کر استعمال کر لیا تھا اور اس حکومت نے تو چار ماہ میں جی پی فنڈ کی بہت سی رقم ان کو واپس کر دی ہے۔ اگر ہماری حکومت اس بجٹ کو بڑھا بھی دیتی تو ہمارے پاس ایک جواز تھا کہ جو آٹا بحران آیا تھا، اس میں بہت سبسڈی دی گئی تھی، پیسے خرچ کئے تھے لیکن انہوں نے اس کی بھی تعریف نہیں کی۔ میرے بھائی نجم الدین صاحب کہتے ہیں کہ بجٹ میں کچھ نہیں ہے۔ حضور والا! یہ فراخدلی ہے اس حکومت کی کہ جس نے ــــ ان کی کارکردگی Appointments میں

جیسی تھی، میرٹ کو انہوں نے جس طرح Violate کیا، تین سال تک اپوزیشن کے ساتھ ظلم ہوتا رہا اور سابقہ حکومت اپنے حلقوں میں تعمیراتی سکیمیں دیتی رہی لیکن اس حکومت نے یہ نہیں سوچا کہ ہم حکومتی بنچوں کو اب وہ سکیمیں دیں اور ساٹھ، ستر فیصد ان کے حلقوں میں ان کے جو کام ہوئے ہیں، ان کو روک دیا جائے۔ نہیں، ہم نے اس صوبے کی بھلائی کیلئے اور اس صوبے کے عوام کیلئے ان حلقوں میں فنڈز دیے۔ حضور! ہماری سکیمیں تو حکومتی بنچوں کی نہیں رہی ہیں کیونکہ ملک میں مالی بحران بھی ہے اور جو کچھ تھا، وہ پرانی سکیموں کو مکمل کرنے کیلئے دے دیا۔ اس دفعہ حکومت نے ایک اچھی روایت ڈالی ہے اور اچھی روایت اگر ڈالی ہے تو اس کی داد دینی چاہیئے۔ میں اپنے بھائی سے یہ کہوں گا کہ مایوس ہم نہیں ہیں، ہم پر امید ہیں۔ جب ہم الیکشن میں جاتے ہیں، حضور، آپ سے بھی لوگوں کا واسطہ پڑا ہوگا کہ لوگ کہتے تھے کہ تین پنج سالے آپ کو ووٹ دیے اور وہ تین سال ہوتے تھے۔ اب خاموش انقلاب کے ذریعے جو ایک بھاری مینڈیٹ ملا ہے تو انشاء اللہ میرے بھائی پانچ سال کے بعد عوام کے پاس جائیں گے۔ یہ ہمارا پہلا بجٹ نہیں ہے، انشاء اللہ چار بجٹ ابھی ہم اور پیش کریں گے اور ہمارے حلقوں میں اور پورے صوبے میں ترقی بھی ہوگی۔ میں نجم الدین بھائی سے کہوں گا کہ آپ کو تو شکریہ ادا کرنا چاہیئے، تنقید نہیں کرنی چاہیئے کیونکہ آپ کے حلقوں میں جو تعمیراتی کام ہو رہے ہیں، آپ کو جو Maximum funds دیے گئے ہیں تو وہ اس حکومت کی کارکردگی ہے۔ محسن صاحب بھی آ گئے ہیں، یہ وزیر خزانہ بھی رہے ہیں لیکن اس وقت ان کو مارک اپ یاد نہیں تھا، آج یہ تعریف نہیں کرتے اور مارک اپ کے پیچھے پڑ گئے ہیں تو میں ان سے یہ ضرور کہوں گا کہ اگر حکومت کی کارکردگی اچھی ہو تو اس کی تعریف بھی کر لیا کریں۔ جناب سپیکر! میں آپ کی وساطت سے پیر محمد خان صاحب سے گزارش کروں گا کہ اب ان کا نمبر آنے والا ہے، وہ تو تعریف کر دیں۔ وہ کہتے ہیں کہ سب کچھ اس نے ذبح کیا اور تنقید حکومت

پر کرتے ہیں' وہ تو کم از کم اچھی کارکردگی کی تعریف کر دیا کریں۔ سر! میں ضرور یہ گزارش کروں گا کہ جب تک میرٹ کی پالیسی کو نہیں اپنایا جائے گا' یہ ملک ترقی نہیں کرے گا۔ کسی نہ کسی نے یہ قدم اٹھانا ہے۔ اس میں ہمیں تکالیف ضرور ہوں گی لیکن جو ان کی کارکردگی ہے جس کی ہمیں ابھی تکلیف اٹھانی پڑتی ہے' ان کی اپنی کارکردگی کی وجہ سے حجم کم ہو کر چار یا پانچ تک رہ گیا ہے۔ ان حلقوں سے جن لوگوں نے مسلم لیگ یا اے این پی کے لوگوں کو Elect کیا ہے' انہوں نے وہاں غلط طریقے سے جو بھرتیاں کی ہیں تو آج وہ لوگ ہمارے پاس بھی آ رہے ہیں اور ان کو تو پھر بھی اس ملک کی عدالت نے کہہ دیا ہے کہ ان کے Ten marks زیادہ ہوں گے' اب جو ہمارے لوگ ہیں' جو اہلیت رکھتے ہیں' تو Ten marks, appointment کیلئے بہت زیادہ ہوتے ہیں حضور' ان کو تو پھر بھی Benefit مل گیا ہے' عدالتوں نے بھی Benefit دیدیا ہے' اس حکومت نے بھی Benefit دیدیا ہے۔ سکیمیں بھی ان کی رکھی گئی ہیں اور اب لوگ دوبارہ بھی ان ہی کے بھرتی ہوں گے' تو ان کو پھر تو تعریف کرنی چاہئے کہ یہ حکومت اچھی ہے اور ان کو تنقید نہیں کرنی چاہئے۔ میرے خیال میں اسی کے ساتھ بس کر لیتے ہیں۔ (ایک معزز رکن سے مخاطب ہو کر) آپ کو تکلیف ہو رہی ہے؟ اس دفعہ تو اچھا ہے کہ آپ نے میری تقریر کے Notes نہیں چرائے' میں نے Notes دیکھے ہی نہیں ہیں۔ میں نے کہا کہ احمد حسن خان' میں چرانا چاہتا ہوں' آپ کے چرا کے پھر میں نے آپ کو واپس کر دیئے۔ میں نے کہا کہ کہیں یہ نہ کہیں کہ ہم اپوزیشن میں ہیں اور سپیکر صاحب بھی مجھ سے ناراض نہ ہو جائیں اور اسلئے آج میں نے Notes دیکھے بھی نہیں' اسلئے میں آپ سے باتیں کر رہا ہوں۔ میرے خیال میں سر' بہتر یہ ہے کہ آپ گھنٹی بجائیں اور میں اسی کے ساتھ تعریف کرنا چاہتا ہوں اس حکومت کی' چیف منسٹر صاحب' ان کی کابینہ اور ان کے رفقاء کار کی کہ انشاء اللہ وہ آئندہ بھی اس سے بہترین بجٹ پیش کریں گے۔

شکریہ۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! آفریدی صاحب کچھ جذباتی ہو گئے ہیں۔ میں نے ان کے Notes چرائے نہیں تھے، میں نے ان کی وہ تقریر لے لی تھی جو ان کیلئے کسی نے لکھی تھی اور جو ان کو پڑھنی نہیں چاہئے تھی۔ سر! یہ چوری والی بات Expunge کرائیں کیونکہ میری شہرت کو نقصان پہنچ رہا ہے۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی، نہیں سر، انہوں چرائی نہیں تھی بلکہ صبح اخبار میں خود دیدی تھی، اسے چھوڑیں سر۔ یہ ہوتا رہتا ہے۔ یہ میرے پڑوسی ہیں۔

جناب عبدالسبحان خان، سر! نقل را عقل باید۔

جناب سپیکر، زما دا خیال دے چه ټارټ (Tort) کښې کیس اوکړئ۔ داسے یو کیس شوے وو، Reported case دے۔ یو لارډ وو، په ډانس کښې یو جینئ ورته اووے چه "You have stolen my heart" نو هغه بیا Tort کښې په هغے دعویٰ کړے وه چه ما باندے ئے د غلا دعویٰ کړے ده۔ In window ده نو In window به زما خیال دے، د دوئ دا اراده نه وه نو دے د پاره۔ حاجی بهادر خان، دیر۔

حاجی بہادر خان، شکریه۔ سپیکر صاحب! ډیر مشکور یم -----

جناب سپیکر، تاسو پرون هم کال شوی وئ خو ستاسو داسے Peculiar حالات دی د هغه بیمارئ د وجے نه گنی ما تاسو پرون Absent لګولی وئ خو د هغے وجے نه ما تاسو له نن بیا چانس درکړو۔ بل څوک ممبر صاحب په دے اعتراض او نه کړی ولے چه پرون ستاسو نوم اغستلے شوے وو او تاسو هغه ساعت نه وے خو ستاسو حالات داسے دی چه -----

حاجی بہادر خان، زمونږ جی بیماری ده نو په هغے وجه یو پوتے هلته منده

رامنده ده- زه ډیر مشکور یم چه تاسو دوباره بیا زما نوم واغستو- د 1993 نه
زه ممبر یم، یو دوه ځله د دې اپوزیشن د دے رونړو اقتدار وو او دوئ هم
ضمنی بجټ پیش کړے وو او په هغے کښې ئې خساره ښودلے وه- اوس دا
ځل چه کوم ضمنی بجټ پیش شوے دے نو په هغے کښې اضافه شوے ده، نو زه
هغوی ته په دے خراج تحسین پیش کوم- زمونږه نجم الدین خان په سالانه
بجټ باندے خبره کوله، زه د دوئ هغه حساب دوئ ته ښائم جی چه کوم سره
په تیر وخت کښې شوے دے- دا اوس چه کومه اے ډی پی راغلے ده، د دے
بجټ په دے کښې پینځه روډونه د نجم الدین خان راغلی دی او څلور دی که
پینځه د احمد حسن خان راغلی دی- داسے پکښې د حمید خان راغلی دی-
زمونږه پکښې یو هم نشته دے او د هغے وجه دا ده چه زمونږه حکومت دا ځل
فیصله کړے ده چه مونږ به زاړه ټول سکیمونه سر ته رسوؤ او هغه به مکمل
کوؤ نو دا د دوئ هغه انصاف وو چه زمونږه په دے اے ډی پی کښې یو هم
داسے تعمیری سکیم نه دے راغلے- دا د دوئ د هغه تیر شوی حکومت د پالیسو
وجه ده- دوئ چه څومره ترقیاتی کارونه کول، هغه به ئے خپل ممبر له او د
خپل ممبر په وساطت به ئے ورکول- زه نجم الدین خان چیلنج کوم په دے
هاؤس کښې چه یا خو به دے دے بجټ ته ښه وائی، د دے بجټ به شکریه ادا
کوی او که نه داسے نه کوی نو زه خپلو وزیرانو صاحبانو ته او چیف
منسټر صاحب ته دا خواست کوم چه په دے سالانه اے ډی پی کښې چه کوم
سکیمونه اوس راغلی دی نو زه د حزب اقتدار ممبر یم، زما هغه به نجم الدین
خان واخلی او د نجم الدین خان هغه سکیمونه به ما له راکړی- زه ئے چیلنج
کوم یا خو به دے بجټ ته صحیح بجټ وائی او که صحیح ورته نه وائی نو

زه دے چیف منسټر صاحب ته او وزیرانو صاحبانو ته دا خواست کوم چه د ده په دے اے ډی پی کښې چه کوم سکیمونه راغلی دی، هغه به ما له راکوی او زما کوم سکیمونه چه راغلی دی هغه به نجم الدین خان له ورکوی۔ زما جی یو څو تجویزونه دی او دا د ضلع په سطح باندے، د حلقے په سطح باندے، زه ستاسو په وساطت باندے چیف منسټر صاحب ته خواست کوم، زمونږه جی د ضلع دیر یو اهم سکیم دے "بلامبټ ایری گیشن" چه د هغے نجم الدین خان هم هغه بله ورځ ووئنا کړے وه۔ د دے نه گیاره هزار ایکړ زمکه سیراب کیږی او زمونږه زیات زرعی مسئله په دے باندے حل کیږی۔ زه ستاسو په وساطت باندے خواست کوم، یقیناً مونږ ته دا هم علم دے چه اقتصادی بحران دے، دے وخت کښې خو داسے څه خبره نشته دے خو اوس یو پراجیکټ هلته په دیر کښې منظور شوے دے او هغه شروع کیږی نو زه دا خواست کومه چه د هغے نه د څه بندوبست اوشی ځکه چه پی سی۔ون او ښه بد هر څه ئے تیار دی، صرف هغه روپئ ویستل دی ورله۔ بل زما په حلقه کښې شاهی ثمر باغ روډ وو او ستاسو به په خیال کښې وی چه ما به دلته کښې بار بار وینا کوله، هغه د 1993-94 اے ډی پی کښې راغلے وو او بیا شیر پاؤ خان راغے، صابر شاه حکومت هم ختم شو، هغه ئے ډراپ کړو او هغه پیسے ئے بل ځائے ته ورکړے۔ ستاسو په وساطت باندے زه دا درخواست کوم چه په دغه سکیم باندے څه عمل درآمد اوکړی۔ بل زمونږه گیاره هزار لائن، هلته کښې تینتیس هزار لائن دے د بجلی، گیاره هزار تقریباً د معیارو پورے Complete شوے دے خو باقی خلقو ته ډیر زیات تکلیف دے، نو زه ستاسو په وساطت باندے خواست کوم چیف منسټر صاحب ته چه د دغے څه بندوبست اوکړی او د

ں' ہم نے اس ضمنی بجٹ میں بھی ان کیلئے ایکسٹرا فنڈز مختص کئے ہیں لیکن میں
ں کہ جتنی مہربانی ہر حکومت' پولیس پر کرتی ہے' ہر قسم کے انسٹرومنٹس ان
ر دیے جاتے ہیں۔ جس طرح ہم اپنی فوج کیلئے اپنا پیٹ کاٹ کر اس ملک کے
یلئے ان کو رقم دیتے ہیں' پولیس کیلئے بھی ہم اپنا پیٹ کاٹ کر رقم دیتے ہیں لیکن
یکر' ہم مطمئن نہیں ہیں۔ آج لاء اینڈ آرڈر کے حوالے سے' اگر میں سڑک پر چلا
شیر صاحب یہاں نہیں ہیں' سید علی شاہ یہاں نہیں ہیں' ہم سب ڈسٹرکٹ پشاور کے
ر سڑکوں پر چلے جائیں تو جناب سپیکر' لوگ اگر ہم پر مہربانی کریں گے تو ہمیں
گے نہیں لیکن کم از کم ہمیں اچھا نہیں کہیں گے' یہ ایک حقیقت ہے۔ اور میں یہ
ہوں کہ یہ بڑا اچھا ضمنی بجٹ ہے' اس کی تمام مدیں بڑی اچھی ہیں' اس کے تمام
ے اچھے ہیں۔ ہم نے بچت کی ہے لیکن ہمیں دکھ سے کہنا پڑتا ہے کہ ہماری
ت کے ساتھ جو عوام کے ووٹوں سے منتخب ہو کر آئی ہے' عوام نے بھرپور اعتماد
ہے' آٹے کے کرائسس میں ہماری ایڈمنسٹریشن اور ان کے ساتھ مل بھگت کرنے
۔ملز مالکان نے ہمارے ساتھ تعاون نہیں کیا' غداری کی ہے اور ایک بات میں صاف
، گا کہ وہ کوئی سی بھی ایڈمنسٹریشن ہے' چاہے وہ ٹرائبل ایریاز میں ہے یا ہمارے
Settled ar میں ہے' ہماری حکومت کے ساتھ ایماندارانہ تعاون نہیں کر رہی ورنہ یہ
ئل پیدا نہ ہوں۔ میں آپ کا مشکور ہوں۔ شکریہ۔

ب عاشق رضا سواتی، سپیکر صاحب! پہ پوائنٹ آف آرڈر باندے یوہ خبرہ
مہ۔ دا تیرہ شپہ زمونږ پہ علاقہ کښې ډیر سخت باران شوے دے او اوس
ہر راغلے دے چہ پنځوس کسان پکښې مړہ شوی دی او نور ژوبل شوی دی
و چیف منسټر صاحب زما خیال دے چہ د هغے علاقے پہ دورہ باندے دے،
نو زہ ستاسو وساطت سرہ چیف منسټر صاحب تہ دا وایمہ چہ دے خلقو لہ د

زز تر زره Compensation ورکړی او دے معزز ایوان ته دا وایمه چه د هغوی د پاره د دعا اوکړی۔

جناب سپیکر: دعا اوکړئ جی۔

جناب نجم الدین: د بهادر خان د خوی د پاره د هم دعا اوکړی چه خدائے ئے جوړ کړی۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر صاحب! صرف حالات لړ، حاجی صاحب تقریر کوؤ ډیر د مهربانئ نه، او لکه څنګه چه ستاسو بردباری دغه دے، مجبوری ے وه او ستاسو په وساطت سره دے ایوان ته دا عرض کوم چه تاسو زمونږ سره مهربانی کوئ نو داسے مهربانیانے مخکښ هم شوے دی لکه حاجی محمد عدیل صاحب پخپله هم اوفرمائیل چه هغوی په ضمنی بجټ باندے پاؤ کم دوه گهنټے تقریر کړے وو، په ضمنی بجټ باندے -----

جناب سپیکر: او منل، هغوی اومنل او منی ئے۔

جناب احمد حسن خان: او دویمه خبره دا ده جناب سپیکر صاحب، چه اوس ممبران ښه خبر وی، په دے کښ مونږه څه ونیلے شو؟ پرون زما د اطلاع مطابق په سرکټ هاؤس کښ د 38 ایم پی ایز د حکومتی پارټو میټنګ شوے دے، هغوی د حکومت د بے کارئ متعلق پخپله ذکر کړے دے ---- (شور)

جناب سپیکر: جناب سرنګزیب خان۔

وزیر خوراک: جناب سپیکر صاحب! د مذاق او د خندا خبره هم ده خو لږ داسے کار دے چه دے کښ سنجیده خبره هم شته۔ هغه دا چه احمد حسن صاحب کومه خبره کوی چه زمونږه ملګری په هاسټل کښ اوسیږی او تاسو ته پته ده چه دلته کښ د حکومتی پارټئ او د نورو پارټو اکثریت ممبران په هاسټل

کښې اوسیږی نو د هاسټل لاتف خو داسې دے چه هلته کښې، دوئ ته پته ده، دوئ خپله هم هلته کښې پاتے شوے دی، د حکومتی پارټئ خلق چه کوم هلته کښې موجود وی نو په خپل منیځ کښې کینی او که پاسی خو دوئ د تسلی ساتی چه که د حکومتی پارټئ ممبران کینی، نو دوئ که څلور ورسره برابر کړی نو بیا هم نه پوره کیږی- دوئ د په دے کښې د تشویش اظهار نه کوی- دوئ د مهربانی اوکړی او اطمینان د ساتی او په قلاره باندے د کینی-

جناب احمد حسن خان: سر! زمونږه اطمینان دے- مونږه په خپل ځائے باندے ټهیک ناست یو خو په هغوی کښې اکثریت ته شکایت د فرید طوفان صاحب نه دے-

جناب سپیکر: جناب سرنگزیب خان-

حاجی بهادر خان (مردان): جناب سپیکر صاحب! پوائنټ آف آرډر، سر- پرون نه میټنګ شوے دے او نه د میټنګ څه خبره شوے ده- دا هغه ممبران دی چه په تیرشوی حکومت کښې په کروړنو باندے نه دی خرڅ شوی- په کروړنو خرڅیدو والا ممبران نه دی- داسے هیڅ خبره نه ده- تاسو په اطمینان باندے څلور واړه کینئ، تسلی ساتئ، مونږه موجود یو-

جناب احمد حسن خان: په کروړنو باندے نه دی خرڅ شوی خو نن د خپل حکومت نه خفه شوی ولے دی جناب سپیکر صاحب؟

جناب سپیکر: سرنگزیب خان، پلیز-

جناب سرنگزیب خان: جناب سپیکر صاحب! میں آپ کا مشکور ہوں کہ مجھے آپ نے اظہار خیال کا موقع دیا- جناب سپیکر! میں ایسا بجٹ پیش کرنے پر وزیر اعلیٰ سرحد، سردار مہتاب احمد خان صاحب کا مشکور ہوں کہ جنھوں نے اس بحران میں اتنے مشکل انداز کا بجٹ پیش

کیا۔ جناب سپیکر! ہمارا ضلع کوہستان ایک پسماندہ علاقہ ہے اور وہاں سڑکیں نہ ہونے کے برابر ہیں۔ وہاں بہت دور دور تک علاقوں میں پیدل راستے ہیں اور کوہستان پر کسی حکومت نے اب تک مستقل توجہ نہیں دی ہے۔ جناب! میں عرض کرتا ہوں کہ کوہستان میں روڈز، واٹر سپلائی، بجلی اور صحت کے ضمن میں ایک جامع سروے ہونا چاہئے۔ جناب! وہاں ایسے ایسے علاقے ہیں جیسے کالام، تتھیا گلی، ایوبیہ وغیرہ اور ان سے آگے ہمارا علاقہ بہت اچھا ہے لیکن بدقسمتی سے حکومت نے ہمارے کوہستان کو ابھی تک کوئی توجہ نہیں دی ہے۔ وہاں ایک بہت اہم شاہراہ قراقرم گزری ہے جو دنیا کا پانچواں عجوبہ ہے۔ اس کے اندر وادیاں ہیں اور وہاں تفریح کیلئے گلگت اور ایری چیریٹی ہیں۔ لوگوں کیلئے تفریحی علاقے کوہستان کی ہر وادی میں ہیں لیکن ہماری یہ گزارش ہے کہ کوہستان کیلئے حکومت ہر قسم کے سروے کیلئے ایک جامع پروگرام بنائے۔ اس کے علاوہ ہمارے حلقے پی ایف۔50 کیلئے 1997-98 کے اے ڈی پی میں روڈز کیلئے ایک روپیہ بھی نہیں رکھا گیا حالانکہ وہ جاری کام ہیں۔ حکومت کا بھی یہ کہنا ہے کہ ہم جاری کام کریں گے تو ہمارے علاقے کیلئے ایک پیسہ بھی نہیں رکھا گیا ہے۔ اس سے پہلے جو کام تھے مثلاً واٹر سپلائی کیلئے ایک لاکھ روپے رکھے ہیں یا پچاس ہزار روپے ہیں تو وہ نہ ہونے کے برابر ہیں۔ اسی لئے میں عرض کرتا ہوں کہ ہمارے علاقوں کی طرف حکومت کو خصوصی توجہ دینی چاہئے۔ شکریہ۔

جناب سپیکر: جناب میاں افتخار حسین۔

میاں افتخار حسین: جناب سپیکر صاحب! ډیره مهربانی۔ ډیر د صبر نه پس مے موقع راغله او ماخول هم داسے دے چه ښوک اوږې دی او وخت هم لنډ تنګ دے او زما نه مخکښې ډیر په مفصل طریقه باندے ډیر په دلائلو سره د دواړو مخو نه په دے باندے خبرے شوی دی او د Repetition ضرورت نشته۔ ارباب صاحب هم درخواست کوی چه Repetition اُو نه شی ځکه چه زه تنګ

یمه خو گرانو ملگرو او عزت منده سپیکر صاحب، زه د حاجی عدیل صاحب ډیر مشکور یم چه زما نوم ئے په لسټ کښې ورکړے دے۔ هغه خفه وو چه مونږه نوموني ورکړی دی او خلق خفه شوی دی۔ مونږه خفه نه یو خو خبر نه وو نو ځکه ورته سرے تیار نه وی۔ بجټ سپیکر صاحب، د هر قوم او د ملک د اقتصادی نظام سره تړلے دے او د هغه ملک د اقتصادی نظام عکاسی کوی۔ مونږه چه خپل بجټ ته، د دے نه مخکښې بجټونه وو او که دا اوس بجټ دے او دے خپل وطن ته ګورو نو ځکه، چونکه د سټوډنټۍ په دور کښې مے هم ډیر توقعات وو، د دے اسمبلۍ نه چه به بهر وو نو زمونږ به ډیر خواهشات وو او د خواهشاتو په رڼړا کښې به مونږه د اقتصادی نظام خبرے کولے او په هغه اقتصادی نظام کښې چه زمونږه د باچاخان خپله لار چه پورا وی او که سپوره وی، د ټولو به په شریکه وی، د هغه نظام په عکاسۍ کښې چه مونږه بجټ ته ګورو، یو روایاتی بجټ دے او مونږه هغه انقلابی ذهن چه مونږه ئے غواړو چه په دے معاشرے کښې بدلون راشی، هغه په مختلفو ادوارونو کښې زمونږ د وړاندے دے او هغه ملکونو خپل تقدیر بدل کړے دے چه چا انقلابی اقدامات کړی دی۔ خو 1990 کښې زه د دے ځائے ممبر پاتے شومه، نن چه زه خپلے ممبرۍ ته ګورمه او چه کله اسمبلۍ ته سرے راشی نو خپلو روایاتو ته ګزارشی او انقلابی آئینه باندے د سړی دوره پریوځی۔ مونږه هم د دے مشین یوه حصه شو او په روټین کښې مونږ ته د اعداد شمار کاغذ وړاندے شی او په هغے باندے مونږه د اقتدار خلق ښه وائی او د اپوزیشن بد وائی او دا روټین راوان دے د تیرو پنځوسو کالو راسے۔ زمونږ په دے وطن کښې هیڅ یو اقتصادی سسټم نشته دے او دغه رنګ مخکښې هم او راتلونکی حکومتونه

که هغه یو وی او که هغه بل وی، هغه هم دغه رنګ د کاغذ په شکل باندے به صرف اعداد شمار پیش کوی او هیڅ قسمه د ملک په تقدیر کښې تبدیلی نه راځی بلکه چه وخت تیریږی نو یو حکومت یو ته ښه او بل ته بد وائی- هم دغه رنګ زمونږه خلق روخ تر ورځه خرابیږی- عرض د خبرے نه مے دا دے چه جناب سپیکر صاحب، ستاسو په وساطت زه هغه خپل زاره جذبات تاسو ټولو د دے اسمبلئ ممبرانو ته وړاندے کومه چه خدائے ته اوګورئ هغه روایاتی انداز پریږدئ- اوس وخت راغلے دے چه مونږ په انقلابی اقداماتو باندے خپل عمل اوکړو او هغه اقتصادی پالیسی، نن هم زمونږ د خپل وطن هیڅ خد و خال ښکاره نه دے، نو زه خو یقیناً چه په کوم بنچونو باندے یم نو زه به وایمه چه دا بجټ د مخکښنی بجټونو په نسبت باندے ښه بجټ دے خو د اعداد و شمار او هیره پیرے په بنیاد- زه دا خبره خپلو ملګرو ته وړاندے کوم چه یو سسټم وو چه څوارلس سوه کاله مخکښے آقائے نامدار حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم مونږ ټولو ته راکړے وو- په هغے کښې یو معاشی سسټم موجود وو، نن د هغه معاشی سسټم هم دلته کښې وجود نشته- دلته کښې جدید دور د ترقئ، د مارکس او د لینن او ماؤزے تنګ چه یو خوا د مزدورانو د انقلاب خبره او بل خوا د کسانانو د انقلاب خبره او دلته کښې نه یو سسټم شته او نه بل سسټم شته او مونږه په Adhocism باندے روان یو او د دے Adhocism په Base باندے به مونږه ترقی نه کوؤ بلکه د خپل خان سره هم دهوکه کوؤ او د خپل عوامو سره هم دهوکه کوو- نو د هغه په رنړا کښې زه دے خپلو ټولو ملګرو ته درخواست کوم چه مونږ په دے کښې د یو بل سره کُمک اوکړو او زه به بیا دے خپلے خبرے له راشم چه ما باندے د خپلے حلقے

چه کومه ډیوټی او ذمه واری ده، نو په هغه باندے د تعلیم په بابت کښې چونکه ما وئیل چه دلته کښې وزیر اعلیٰ صاحب او بی بی هم موجود وی، خو وزیر صاحب شته دے نو سپیکر صاحب، ستاسو په وساطت باندے زه دوئ سره یوه خبره کول غواړم چه زمونږه فخر افغان باچا خان چه کله په خپل دور کښې د اصلاح د پاره میدان ته وتی وو نو هغوی ړومبے دا خبره اوکړه چه زه دے ټولو خلقو له مدرسه جوړمه، سکول جوړومه او د سکول په بنیاد باندے دے خلقو له تعلیم ورکول غواړم چه د انګریز د جبر او استحصال خلاف جهاد اوکړی، نو په دے ټوله صوبه کښې سل سکولونه ئے جوړ کړی وو۔ زما په پېښو کلی کښې د هغه سلو سکولونو یو یادګار موجود دے چه "اسلامی سکول" ورته وائی او زه چونکه د هغه سکول پیداوار یم او د ډیر ټائیټونو نه راوتی نن په دے بنچ باندے ناست یو۔ د خپلو غریبو عوامو او د پارټئ مشکور یو چه مونږه ئے د دے قابل کړو چه نن په دے ځائے کښې ناست یو او خبره کوؤ۔ زه د باچا خان د هغه سکول او د هغه منتظمینو مشکور یو چه نن ئے مونږه د دے قابل کړے یو۔ زه ستاسو په وساطت باندے درخواست کوم چه په هغے کښې کوم ملازمین خدائی خدمتګار دی او دیرشو او د څلویښتو کالو راسے په هغے کښې ملازمت کوی او هغوی ملازمت په رضا کارانه طور باندے کوی۔ د حکومت د طرف نه هغوی ته څه فنډ شته دے او دا د هغوی د پاره یو فخر دے چه په دے دومره سخت وخت کښې چه حکومت د امریکه او د بهر ملکونو او جاپان نه فنډونه اخلی خو سکولونه نه شی چلولے، په هغه ځائے زمونږه د خدائی خدمتګار په بنیاد باندے د باچا خان د تحریک هغه یادګار اوس هم موجود دے او شته دے۔ نو زه وزیر تعلیم صاحب ته درخواست کوم چه د هغے د پاره د دا

بندوبست اوکړی چه هغه خدائی خدمتګار داسے عمر ته رسیدلی دی چه هلته خو سرکاری طور باندے ریټائرمنټ شته دے نه او هغوی د پخوا نه د ریټائرمنټ حد ته رسیدلی دی او نن د هغه خلقو د پاره مراعات هم نشته دے، نو د دے سکول د پاره چه په هر څه بنیاد باندے کیدے شی یو خو اعزازی طور چه د ټولے تعلیمی ادارو نه علاوه هغے اسلامی سکول ته توجه اوشی چه زمونږه د فکر او د رنړا او د باچا خان د تحریک یو موجوده او ژوندئ حصه ده چه د هغے د پاره په هره طریقه چه وی چه د هغه خدائی خدمت ګارو د پاره هم یو Compensation اعلان اوشی او دے سکول ته دا حیثیت ورکړی چه دا دنیا ترکومه پورے قایمه او دائمه وی چه د هغه انګریزانو د وخت د جهاد د پاره چه کوم سکولونه جوړ شوی وو، په هغے کښ دا یوه نښه ده چه تر هغے دا هم قایمه او دائمه پاتے شی۔ (تالیاں) زه ګرانو ملګرو ته د صحت په بابت کښ د سپیکر صاحب په وساطت خبره کول غواړم۔ د صحت په بابت کښ ډیرے زیاتے خبرے اوشوے، د ټولے صوبے په سطح خبرے شوی دی۔ زه هغه Repetition نه کوم۔ دلته کښ مخکښ هم یو حکومت وو چه د هغے وزیر اعلیٰ Directive جاری کړے وو، سپیکر صاحب، که دے وزیر صاحب ته مو اووے که تاسو ته اوګوری نو ښه به وی هسے ما خطا کوی جی۔ (قہقے) د صحت په بابت کښ دلته کښ د دے نه مخکښ یو حکومت چه تیر شوے وو، هغوی Directive جاری کړے وو او زمونږه د تحصیل په سطح باندے د پښو هسپتال ته نے حیثیت ورکړے وو او ما په خپل وخت کښ د هغے هغه بلډنګ په 1990 کښ جوړ کړے وو که تاسو راشئ او یا چرته هسے هم په لاره تیریږئ او اوګورئ نو ستاسو به هم زړه درد اوکړی چه دومره ښه بلډنګ او

هغه بیخی خالی- که تاسو رشتیا د هیلته مدد کول غواړئ او تاسو وایئ چه خلقو ته د دا Facilities اورسیږی نو په خواؤ شا کښ چه څومره هسپتالونه دی او په ښه شکل کښ موجود دی، هغوی ته د ډاکټرانو ورکولو ضرورت دے او د چلولو ضرورت دے- نن هم د پبو او-پی-ډی چه کوم دے او یا د خواؤ شا چه څومره هسپتالونه دی، په هغے زیات نه زیات رش دے، آبادی پرے زیاته ده- که تاسو رشتیا د هیلته په مد کښ مدد کول غواړئ نو د پبو هسپتال ته به خصوصی توجه اوکړئ- ستاسو په وساطت وزیر اعلیٰ صاحب ته وایم چه هغوی کله د هیلته پیکج اعلان کوی نو چه د پبو پکښ خصوصی ذکر اوکړی او د خواؤ شا د ټولو هسپتالونو په هغے کښ ذکر اوشی- جناب سپیکر صاحب! د اوبو د څکلو خبره اوشوه، زه په داسے حلقه کښ اوسیږم چه هغه په دوه حصو کښ تقسیم ده- یو د غر علاقه ده او یو میدانی ده- میدانی د سیند سره نزدے ده او د غر علاقه د اوبو نه لرے ده نو هلته کښ اوبه نشته دے او هغوی ما نه اوبه غواړی او دلته کښ اوبه دومرے ډیرے دی چه کله سیند راشی نو سیلاب ئے اوړی- زه پرون هم تلے ووم او هغه د خپلے علاقے د سیند د غاړے د خلقو دوره مے کړے ده نو بیا هغه علامه شته دے- یو برساتی علامه تیره شوے ده په تیرو ورخو کښ- زه ستاسو په وساطت دوئ ته په ډیر مؤدبانه انداز کښ وایم چه سیلاب راشی نو تاسو بیا د فوټوانو اوخکلو د پاره راځئ او هلته خلقو ته اعلانونه اوکړئ او بیا نه کیږی نو د 1990 نه مونږ په دے جهګړه کړے وه او د درے، درے نیمو کروړه روپئ د مرکز سره زمونږه جهګړه وه او هغه جنګه-تر اوسه روان دے- څه سپرونه جوړ شوی دی خو چه کومه زمونږه علاقه وه لکه کیمپ کورونه، مومن ګړهئ او جبه

داؤدزئی د علاقے هغه خلق دومره غریب دی چه زه وایم کیدے شی چه که دے خل له سیلاب راغلے وے نو تاسو به بیا سپرونه وهل خو هغه غریب خلق به بیا په هغه خائے کښی نه وو۔ زه په دے وجه تاسو ته خواست کوم چه تاسو په دے خائے کښی د Flood کوم فنڈ چه دے، ستاسو په علم کښی یوه خبره راولم جی ببښنه غوارم، زما په وخت کښی Flood Damage Fund دلته کښی راغلے وو نو هغه په کوم خائے کښی اولګیدو چه کوم خائے کښی سیلاب نه راخی، زه بیا خواست کوم چه هسے نه چه د Flood Damage د پاره که دوئ پیسے ایخودے وی او چه سیلاب په کوم خائے کښی راخی، هلته او نه لګی او په بل خائے کښی اولګی، ستاسو په وساطت دوئ ته په Advance کښی دا خبره کوم چه هلته کښی حالات نازک دی۔ داوس نه که هغوی ته څه کارکول غواړئ نو چه په هغے زر تر زره کار اوکړئ۔ نیم کار شوے دے او څه کار پاتے دے۔ (تالیاں) او ګرانو ملګرو د سپیکر صاحب په وساطت باندے چه زه د اوبو د څکلو خبره کوم نو زما د خټک نامے خاصکر زما د غرعلاقے خلق چه نن هم هغوی د اوبو د پاره خوایندے میاندے خی او د چه پردی کورکښی چرته پمپ وی نه یتوله محله راخی او د هغوی نه اوبه اوړی۔ زه وایم که د اوبو د څکلو، بشیر بلور صاحب دلته کښی شته دے نو ستاسو په وساطت هغوی ته وایم ----

وزیر خوراک: زه نوټ کوم۔

میاں افتخارحسین: فرید صاحب وائی چه زه نوټ کوم، د ده دا نوټ بک لږ غټ دے۔ (قہقہہ) او زما دا خبرے به پکښی راشی یا نه، خو لږے د پکښی درج کوی۔ (قہقہے) دا بنه ده سپیکر صاحب، چه زه د اوبو د څکلو په لړ کښی

حکومت ته دا خواست کوم چه په خصوصی توګه باندے زمونږه غریږے علاقے ته د ډیر اهمیت ورکړے شی ځکه چه هغوی ته ډیر مشکلات دی۔ اوس دا خو اوبه ئے اوړی او اوبه نشته خو په مینځ کښی یوه بله خبره د اوبه خورو ده۔ د اوبه خورو باره کښی هم مونږه له روزانه خلق راځی او دلته کښی مونږه حکومت سره خبره اوکړو او هغوی وائی چه دا بندوبست به اوشی او زمونږه زیاته علاقه په تیل کښی راځی۔ زه خواست کوم چه کوم ځائے کښی سیلاب راځی چه د هغے روک تهام اوشی او چه چرته د څکلو اوبه نشته نو هلته د د څکلو د اوبو بندوبست اوشی۔ بشیر صاحب راغے، ستاسو په وساطت د هغوی شکریه هم ادا کوم چه دوئ په تیرو ورځو کښی زمونږه د نوښار دوره کړے وه او مونږ ورته خپل مسائل وړاندے کړی دی۔ کومے خراب ټیوب ویلونه چه وو، په هغه کښی اکثریت ټهیک شوی دی۔ زه توقع او طمع لرم چه دا کوم پاتے دی، په هغے کښی به هم زر تر زره دوئ احکامات جاری کړی ----

<u>وزیر خوراک</u>؛ یوه دوره به بیا اوکړی۔

<u>میاں افتخار حسین</u>؛ وائی چه یوه دوره به بیا اوکړئ۔ بهرحال، سپیکر صاحب، زه ستاسو ډیر مشکور یم چه زما دا ماتے ګډے خبرے مو ډیر په صبر سره واوریدے۔ زه یوه خبره د احتساب په بابت کښی دلته کوم۔ دا بجټ هم پیش شو او دا ټولے خبرے هم دلته کښی اوشوے۔ رښتیا خبره دا ده سپیکر صاحب، چه د سړی زړه درد کوی۔ تقریرونه هم ښه اوشی، ټولے خبرے اوشی، په 1990 کښی د دے نه ښے خبرے شوے وے خو علاج ئے نه وو۔ مونږه هم وایو چه د فلانکی د خیټے نه به دا راوباسو او دے چه کوم رشوت

اخلی او دے چه کومه بے ایمانی کوی، مونږ خبرے اوکړو او د هغے جواب راشی اخباراتو کښې۔ اخباراتو کښې سرخی راشی خو علاج یے نه وی۔ زه بیا هغه خپلے زړے خبرے له راځم چه په سر کښې مے کړے وه چه په دے روټین کارونو باندے حالات نه ښه کیږی، په انقلابی اقداماتو به ښه کیږی۔ انقلابی اقدامات په دے شکل کښې چه میاں افتخار په 1990 کښې ایم پی اے وو او د هغه یوه جونګړه هم نه وه او نن د هغه شپږ کورونه په حیات آباد کښې دی، نو د دے د پاره هم بیا د ثبوت ضرورت شته دے؟ پکار دا ده چه دا نیغ په نیغه ثبوت دے او د ډیرو خلقو ثبوتونه شته دے هم۔ د سابقه وزیرانو او هم د حکومت د خلقو او هم د انتظامیے د خلقو او هم زما غوندے د خلقو، هم د ایس ډی اوګانو یعنی د هر سړی په دے معاشره کښې خپل خپل ثبوت شته دے۔ زه وایم چه د چا ثبوت شته دے، خیر دے یو نیم به پکښې بے ګناه سړے هم لاړشی، که کله خلق معاشره ښه کوی نو چه سل خلقو ته نیغ په نیغه سزا ملاؤ شی نو یو دوه به پکښې بے ګناه وی۔ دا دوه به پکښې بے ګناه وی خو دا دوه کم سل خو به ګنهګار وی کنه۔ سپیکر صاحب! ستا په وساطت خواست کوم چه احتسابی سیل دلته هم جوړ دے او په مرکز کښې هم جوړ دے، مونږ نه هم نومونه غواړی، یو ټوَر د د حیات آباد اوکړی۔ زه د سپیکر صاحب په وساطت باندے ګورنمنټ ته خواست کوم او بی بی سره نے هم په دے کښې خبره کړے ده، نو مونږ د هغے د پاره اختیارات غواړو۔ زما یقین دے بی بی، که احتسابی کمیټئ ته اختیارات ملاو شی نو د حیات آباد د دے ټولو خلقو به ټهیک ټهیک حساب اوشی۔ د سپیکر صاحب په وساطت باندے ټولو ته دا خبره کوم چه هر دور چه راځی، یو نه یو بدنامی خان سره راوړی۔ مونږه دا نیک نامی په خپل خان

باندے اوړل غواړو چه مونږ به خپل حساب اول د ځان سره کوو او بیا د نورو بتولو۔ دا د یو ځائے نه او د بل ځائے نه نه، دا د 1947 نه واخله تر دے وخته پورے پکار دے۔ دا څنګه خبره ده چه د یو کال ګنړکپ ګنړکپ دے او د هغه بل کال ګنړکپ نه دے؟ هغه هم ګنړکپ دے او دا اوسنے هم ګنړکپ دے۔ (تالیاں) او جناب سپیکر صاحب، چه که چرته مونږه په ریشتیا باندے او ډیر په ایماندارئ او زمونږه زړه درد کوی، سپیکر صاحب، زه یوه مختصره خبره کوم چه په 1990 کښں زه ایم۔پی۔اے ووم، ما د ایم پی اے په حیثیت باندے په خپله حلقه کښں په اوچ زور باندے هیروئن بند کړی وو، هم هیروئن خرڅولو والا او هم څکلو والا، د څکلو والا مے علاج کړے وو۔ د شپږ سوه کسانو ما په خپلو پیسو باندے علاج دلته کښں کړے وو او ما هغه پوډریان څلورکاله په جیل کښں ساتلی وو۔ نن صبا د هیروئن د اسمګلرخلاف څوک آوازنه شی اوچتولے خکه چه حلقه کښں د هغه پوزیشن مضبوط وی، خلق د هغه سفارش کوی۔ مونږ که دا ایمان تیر کړو چه خدائے ته مخ کړو او دلته د دے قوم د ښیګړے د پاره، د ووټ په خاطر نه، د خپل قوم د مستقبل په خاطر په ایماندارئ اقدامات اوکړو چه د ګنړکپانو ملګرتیا به نه کوو او د ایماندارانو ملګرتیا به کوو،نو هله به دا سسټم ښه کیږی۔

<u>Mr. Speaker:</u> Thank you very much.

<u>میاں افتخارحسین</u>: سپیکر صاحب! ما له یو منټ نور راکړئ۔ سپیکر صاحب، ما ونیل که زما سر کښں نمبر راغلے وے نو زړه به مے تش کړے وو۔ داسے ما په خپل وخت کښں جواری ختمه کړے وه۔ دا زما په فرائضو کښں راتلل خو زه تاسو ته سزا ښایمه ــــ

(شور)

میاں افتخارحسین ۔ دلته وزیر صاحب، تاسو د ریکارډ نه بغیر خبرے کوئ نو زه ستاسو___ ما دا وئیل چه ما څکه .....

وزیر خوراک۔ دوئ ته وائے کنه؟

میاں افتخارحسین ۔ ما الیکشن بائیلو څکه چه ما ته د ایماندارئ سزا ملاؤ شوه۔ خدائے پاک زه Compensate کړم او په بل خل د هغے نه په زیاته ما اوګټله نو د ګټے او د بیلات صرف الیکشن پیمانه نه ده، کار او عمل پیمانه ده۔ که مونږ خان ته رشتیا د قوم خدمتګار وایو نو کله به د اسمبلئ ممبران یو او کله به نه یو۔ دا څه خبره نه ده چه زه په بے ایمانئ د اسمبلئ ممبر شم۔ چه کوم سړے، خدائے نه به خواست اوکړم او قوم ته هم اپیل کوم څکه چه په دعاګانو نه کیږی، په غم به کیږی، چه کوم سړے بے ایمانه وی او د بے ایمانئ ملګرتیا نے کړی وی نو پکار دا ده چه که هغه د هرے پارټئ نه وی، چه بیا ورله ووټ ورنکړی او دے اسمبلئ ته ئے راو نه لیږی او د اسمبلئ مخ او نه وینی۔ ( تالیاں )

زه ګرانه سپیکر صاحب، مختصر به ئے کړم او اجازت به اوغوارم۔ ټول عمر چه کوم دے، زه یو شعر وایم۔ زما دا شعرونه دے ټولو ته ګوته شوی دی خو عمل پکار دے۔ خبره ډیره برابر ده۔ زه وایم چه:

زه یم پښتون زما په سر شمله ګړه اوتړئ
پس د مرګه چه مے څنه په خاسه اوتړئ
دا مے د پلار نیکه یادګار دے چه ژوندے پاتے شی
خازے د قبر ته مے تُوره او نیزه اوتړی
که په ژوندون مے پوره نه شو دا ارمان دے زما
د انقلاب جهنډا زما په جنازه اوتړئ

(تالیاں)

Mr. Speaker: Thank you. Mr. Qaimoos Khan, MPA, please.

جناب قیموس خان: بسم اللہِ الرّحمٰنِ الرّحیم ----

وزیر خوراک: پوهه نه یم چه دا به Relevant وی یا Relevant به نه وی، که دا میاں صاحب لږ پاسیدو چه په پیو کښې د هیرونئنو څکلو والا تعداد نور څومره دے؟ (قهقهه)

جناب قیموس خان: جناب سپیکر! ----

جناب سپیکر: دا میاں صاحب مه پاسه وه گورے۔ (قهقهه)

جناب احمد حسن خان: دا میاں صاحب دِ د خدائے پاره نه چهیړی گورے۔ (قهقهه)

میاں افتخار حسین: سپیکر صاحب! پکار دا ده چه زما دے نیکو خواهشاتو ته، تاسو دوئ ته Instructions ورکړئ چه په دے په رشتیا عمل اوشی، گپ د ترے نه جوړوی۔ زه چرته په اسمبلئ کښې خبرے نه کوم، په میټنگونو کښې هم نه کوم، د زړه درد مے وو، ما بیان کړے دے۔

جناب سپیکر: جناب قیموس خان۔

جناب قیموس خان: جناب سپیکر! زه مشکور یم۔ خبره دا ده چه د دے نه مخکښې په ضمنی بجټ باندے ډیر تفصیلی بحث اوشولو او خصوصاً ارباب صاحب د دے پورا حواله ورکړه چه د دے نه مخکښې کال په کال باندے ضمنی بجټ په هر یو بجټ کښې پیش کیږی چه په هغے کښې دے موجوده حالاتو ته چه مونږه گورو نو په دے بجټ کښې چه څومره په اخراجاتو کښې کمے شوے دے، نو زما په خیال د 1985 نه په دیخوا مونږ په ډیرو بجټونو کښې لیدلی دی، دومره کمے په غیر اخراجاتو کښې نه دے راغلے۔ په دے پیره باندے چه کوم

کې په غیر ضروري اخراجاتو کښې راغلي دے نو زما په خیال دا د ستائنې وړ دے۔ جناب سپیکر! زه زیات وخت نه اخلم البته زه د خپلې ضلع یا د علاقې بعض داسې ضروري مسئلې چه دي، د هغې طرف ته ستاسو توجه راګرځومه۔ اولنۍ خبره دا ده چه زما حلقه په داسې یوه خطه کښې پرته ده چه دا نه د مینګورې سره راځي او نه د متې سره راځي۔ زمونږه په سوات کښې دوه سب ډویژنې دي، یو مټه سب ډویژن دے او یو سیدو سب ډویژن دے۔ زمونږه په کالج کښې هلکان د داخلې د پاره چه کله سیدو ته ځي نو هغوي ورته وائي چه تاسو د متې سره یئ او چه کله متې ته ځي نو متې والا ورته وائي چه تاسو د سیدو سره یئ۔ په دے سلسله کښې په تیر وخت کښې په دے Page No. 49, Serial No. 246 کښې ADP چه ده، د Rented building، په خوازه خیله کښې د ډګری کالج د پاره منظوري شوے وه چه هغه په دے اے ډي پي کښې دوباره نه دے Drop شوے۔ په دے سلسله کښې هلته د نوي بلډنګ اخستو ضرورت نشته دے۔ یو د دے فرید طوفان صاحب د محکمې ګودام دے او هغه د ډیر وخت نه دغه شان شاړ پروت دے، په هغې کښې هم زمونږه ګزاره کیدے شي۔ که حکومت په دے باندے توجه اوکړي نو زما په خیال دا مسئله به حل شي۔ د دے نه علاوه زمونږه په علم ګنج کښې یو مډل سکول دے چه سي اینډ ډبلیو او ایجوکیشن محکمې هم په هغې کښې سفارش ورکړے دے چه دا خطرناک دے او راوليږي۔ ماشومان هلکان بهر په میدان کښې ناست وي نو پکار ده چه په هغې باندے توجه ورکړے شي ځکه چه هغه د والي صاحب د وختو پخوانې دوه چهته بلډنګ دے۔ هغه د راغورځیدو جوګه دے۔ په دغه سلسله کښې که حکومت توجه ورکړي نو زما په خیال باندے به د هغه خلقو پرے

تسلی اوشی۔ د دے نه علاوه زمونږه د گناجیر او د شین کښ دوه مډل سکولونه د پاره د اتو نهو کالو نه د Roof level پورے رسیدلے دی خو د Up-gradation فنډ د عدم دستیابئ په وجه باندے هغه دغه شان پراته دی نو په هغے باندے توجه پکارده۔ جناب سپیکر! که مونږه د هیلتھ په سلسله کښ خوازه خیله هسپتال چه د 1991 نه په هغے کښ یو وارډ جوړ شوے دے او نور بقایا د هغے چه کوم کار دے، تر دے ساعته پورے دا درے کاله اوشولو خو په هغے نور کار او نه شولو او نه ئے هغه پیسے معلومے دی چه کوم طرف ته لاړے او کوم طرف ته غائبے شولے؟ په هغے کښ د ډاکټرانو کورونه هم دی او په هغے کښ ډینټل بلاک هم دے او دغه شان پکښ د ایکسرے پلانټ د پاره هم دغه دے۔ دا ټول کارونه په هغے کښ تر دے ساعته پورے دغه شانتے پاتے دی۔ په هغے کښ نور نوے کار نه دے شوے، صرف یو وارډ پکښ جوړے شوے دے او هغه هم دغه شان پروت دے، لا چا کهلاؤ کړے هم نه دے۔ چار باغ بی ایچ یو چه کوم دے، د هغے آر ایچ سی ته Up-gradation شوے دے چه په اے ډی پی کښ په Page No. 64, Serial No. 300 کښ وو خو د هغه په دے اے ډی پی کښ پته نه لگی چه نگران حکومت Drop کړے دے؟ نو په هغے باندے د حکومت توجه ورکړی خکه چه ډیره غټه علاقه ده او خلقو ته تکلیف دے۔ په دے سلسله کښ سرکاری زمکه هم شته دے او د حکومت پرے یو پیسه هم نه لگی۔ که ما ته دا دوه کاره اوشولو، د خپل علم مطابق که مونږ یو سړی ته دوائی نه شو ورکولے یا د یو سړی مکمل علاج نه شو کولے لیکن دا خو کولے شو چه کوم شے د حکومت نه منظور دے نو پکار ده چه په هغے باندے عملدرآمد اوشی۔ په دے دوه کاله کښ زما د علم مطابق تقریباً د پنځلسو نه واخله د شلو کسانو

پورے د لیونی سپی د چیچلو نه او د مار د چیچلو نه مړه دی د غلط ویکسینو، Expired vaccine یا د هغے ملاوټ په وجه۔ پکار دا ده چه حکومت په دے باندے توجه ورکړی چه په هر هسپتال کښ چه د مار چیچلو یا د سپی د چیچلو ویکسین دستیاب وی چه خلقو ته په موقع باندے سهولت رسیږی۔ زه د هغه خلقو نومونه هم ښودلے شم چه څوک سپی یا مار چیچلے وی او خان ته ئے انجکشنے کړے دی او کامیابے شوے نه دی۔ جناب سپیکر! دے کښ د ایریګیشن طرف ته زیاته توجه ورکړے شوے ده۔ په سوات کښ دوه نهرونه دی، یو نکپی خیل نهر دے او یو فتح پور نهر دے۔ د دغه فتح پور نهر Extension د ډوپ نه تر جانو پورے د تیر ADP په Page No. 259 باندے موجود وو، هغه Drop شوے دے۔ زه د وزیر صاحب توجه د هغے طرف ته ګرځول غواړم ستاسو په توسط باندے چه هغه اے ډی پی چه په کوم کښ زمونږ دا نهر موجود وو، چه په هغے باندے دوباره غور اوکړی۔ د دے نه علاوه زمونږ په سوات کښ قومی ولے دی، د هغے قومی وَلو د صفائۍ د پاره حکومت همیشه مخکښے پیسے ویستے وی، که د هغے صفائی او نه شی نو خلقو ته هغه اوبه په صحیح طریقه باندے نه شی رسیدلے۔ پکار ده چه د دے د پاره داسے یو پروګرام جوړ شی چه دغه قومی ولو ته هم څه فنډ مقررکیږی۔ جناب سپیکر! د Flood protection په باره کښ خبره اوشوله۔ د سوات نهر چه کوم دے نو د شین نه واخله د چارباغه پورے، دا کلی اوس هم په خطره کښ دی۔ د هغه کلو څه حصه ئے وهلے هم ده۔ په هغے کښ زه د ایریګیشن وزیر ته ----

میاں افتخارحسین، جناب سپیکر صاحب! زه بخښنه غواړم، د دے اسمبلۍ

کارروائی ته پریس والا هم ګوری نو دے ملګرو ته خواست دے چه لږ -----

جناب قیموس خان، جناب سپیکر! که زمونږه دے وزیرانو صاحبانو لږه توجه اوکړه -----

جناب سپیکر، تاسو مهربانی اوکړئ منسټرانو صاحبانو، ریفرنس تاسو دواړو ته کیږی- تاسو یو یو خپل خپل سیټ باندے کینئ، مهربانی اوکړئ-

وزیر خوراک، جناب سپیکر صاحب! دوئ ته اووایئ چه هلته کینی او مونږ نوټس اخلو باقاعده-

جناب بشیر احمد بلور (وزیر آبپاشی و آبنوشی)، جناب سپیکر صاحب! د دوئ یوه یوه خبره مونږه نوټ کوؤ- دوئ د ایریګیشن او د دوو نهرونو خبره اوکړه، زمونږ په زړه باندے د دوئ خبرے نوټ کیږی-

جناب قیموس خان، مهربانی جی- جناب سپیکر! ما د دے Flood protection په باره کښ خبره اوکړه- زمونږه د شین نه واله د چار باغ پورے په دے مینځ کښ ځومره کلی چه راځی، هغه کلی اوس هم د سین د کټاؤ په وجه باندے غورزیدلی دی او پټو ته هم نقصان رسی- اوس بیا د سیلابونو په وخت کښ خطره ده- وزیر صاحب له پکار دی چه د هغے د پاره خصوصی توجه ورکړی- بله خبره دا ده چه زمونږ د سوات سړکونه مکمل طور باندے تباه دی او په هغے زما په خیال په پینځه نیمے ګهنټے کښ یو سړے رسیدے نه شی- صرف مونږ ته څلور لاکهه روپئ په دے اے ډی پی کښ کیښودے شوی دی او هغه هم نوے کار دے چه وران پروت دے- د تیندو ډاک او د نورو سړکونو د Repair د پاره یوه پیسه نه ده مقرر شوے- پکار ده چه حکومت د سوات د سړکونو د Repair د پاره چه دا ډیر طویل سړکونه دی، څه پیسه منظورے

کړی چه دا سړکونه ځه گزاره اوکړی۔ که دا د پشکال بارانونه پړے تیر شو نو بیا به زما په خیال کهنډرات شی او د تلو جوګه به نه وی۔ د دے نه علاوه زمونږه د میاندم یا د مالم جبے روډونه دی، نو هغه هم بالکل خراب دی۔ د هغے د Repair د پاره هم پیسے پکار دی۔ زما لږ وخت شته دے۔ جناب سپیکر! زمونږ د سوات انډسټریل اسټیټ په اے ډی پی کښې په Page No. 332, Serial No. 1651 کښې د 1991 نه په دے پله باندے د اے ډی پی نه Drop شوے دے او بغیر د انډسټری نه خلقو ته روزګار نه مهیا کیږی۔ په دے سلسله کښې پکار ده چه حکومت خاص توجه اوکړی او خصوصاً په آخره کښې زه د سیاحت په باره کښې یو دوه درے خبرے کول غواړم - یوه خبره دا ده چه زمونږ سوات د دے نه مخکښې، په بجټ کښې تاسو د سیاحت په باره کښې خبره کړے وه نو سیاحت تاسو په چارسده او په پیښور او مردان کښې ګورئ، کله چه د سیاحت نوم واخستے شی نو زمونږه سوات طرف ته نظرلاړ شی او د سیاحت په سلسله کښې په اے ډی پی کښې د سوات د پاره هیڅ نه دی ایښودے شوی۔ په دغه سلسله کښې زما یو تجویز دے او هغه تجویز دا دے چه هغه خو فی الحال د صوبے په قابو کښې نه دے، خو زه صوبائی حکومت ته ستاسو په توسط باندے دا درخواست کوم چه دوئ د د مرکزی حکومت سره خبره اوکړی۔ په ایبټ آباد او مانسهره کښې په یو روډ باندے خطیر رقم لګی خو د هغے په نیمه به هم دلته کښې او نه لګی۔ که مونږه د سیند په غاړه باندے د چکدرے نه واخله تر د بحرین پورے د یو سړک منصوبه جوړه کړو نو زما په خیال باندے دا به د سیاحت د پاره ډیره زیاته د Attraction یوه ذریعه وی۔ د دے زوړ سړک که مونږه توسیع کوؤ نو هغه ناممکن ده۔ د هغے یو یو فټ په زرګاؤ خرڅیږی۔ د

سیند د غاړے سړک که به یو خو زیاته زمکه مفت ملاؤ شی او که په قیمت باندے هم وی نو ډیر کم قیمته به وی۔ زه په آخر کښې ستاسو مشکور یم۔ دا زما یو څو گزارشات وو نو پکار ده چه حکومت په دے باندے توجه ورکړی۔

Mr. Speaker: Thank you. Janab Bahadar Khan, MPA, please.

حاجی بهادر خان: اعوذ باالله من الشیطٰن الرّجیم۔ بسم اللّٰه الرّحمٰن الرّحیم۔ جناب سپیکر صاحب! په بجټ خو زما په خیال چه حاجی عدیل صاحب او په ضمنی بجټ باندے ارباب صاحب او زمونږه د اپوزیشن ټولو ملگرو ډیرے ښے خبرے اوکړے۔ زمونږ ډیر ښه او صحیح بجټ پاس شوے دے۔ زما واسطه د زمیندارئ سره ده او د زمینداره کورنئ سره تعلق ساتم۔ تیر شوی دور کښې زمونږ د چقندرو ریټ چه مقرر کیدو نو په هغه وخت کښې مونږه ډیره هله گله اوکړه خو هیڅ خوند ئے او نه کړو۔ د ټیپرو د ریټ نه ئے هم زمونږ چقندر ډیر ارزان واغستل۔ اوسنی حکومت ته مے دا سوال دے چه زمونږ د تمباکو ټول آمدن چه څه دے، هغه کمپنو اوخوړو۔ د یو پونډ تمباکو نه زما په خیال پینځه سوه سگریټ جوړیږی خو مونږ له د یو ډبی قیمت هم نه راکوی۔ زما حکومت ته دا خواست دے چه د ډپو شروع کیدو نه مخکښې د یو میټنګ ) راغوښتے شی او په هغے کښې د باقاعده ریټ مقرر شی۔ پکار ده چه % 25 ریټ هر کال سوا کیږی۔ زما دویمه خبره د زراعت باره کښې ده۔ د زراعت منسټر صاحب ناست دے، زمیندارو ته خاوره په ډیر گران قیمت ملاویږی او په خاوره کښې ملاوټ هم کیږی۔ په پنجاب کښې داسے فیکټرئ جوړے شوے دی چه هغه مونږ له بالکل ناقصه خاورے رالیږی او په بازارونو کښې کهلاؤ خرڅیږی۔ پکار ده چه چهاپے اوهلے شی خو مقامی پولیس به

ناخبره وی۔ که مقامی پولیس خبر شول نو د هغې نه مخکښې هغه دوکانداران خبر شوی وی او هغه خاوره ئے لرے کړے وی۔ لږے ورځے مخکښې تاسو یقین اوکړئ چه په سوونو ایکړه ټماټر زمونږ په علاقه کښې اوچ شوی وو۔ په دے وجه چه د سپرے خاورے کارخانه بند ده او په بازار کښې خرڅیږی، دا د کرش پوډر ئے په بورو کښې اچولی وی او په 260 روپئ بورئ په زمیندارو خرڅوی۔ هغه بله ورځ په شیرګړه کښې ما چه د چا سره ایجنسئ وے، د هغوی یو میټنګ راغوښتے وو او ما ورله وارننګ ورکړے دے چه بهتی که کوم سړی سره داسے قسم خاوره ثابت شوه، لاهور واله چه کومے کارخانے دی د هغوی پتے مونږه اخستے دی او د هغوی باقاعده ایډریس ټیلیفون نمبرے مونږ سره شته دے۔ مونږه حکومت ته هغه پیش کوؤ چه په مرکزی سطح باندے د هغوی سره خبره اوشی چه دا ناقصه خاوره د هغه خائے نه بند شی۔ د دے لعنت نه زمونږ مردان خو بالکل تباه دے۔ دریمه خبره زما دا ده چه په تیر شوی ځل کښې زمونږه بشیر خان منسټر صاحب دوره کړے وه، نو زه د هغه شکریه ادا کوم چه د هغه په وینا باندے او د هغه په کوشش باندے زمونږ چه کوم لفټ ایریګیشن سکیمونه وو، هغه صحیح شول۔ زه د هغه شکریه ادا کوم۔ (تالیاں) د دے نورو منسټرانو نه دا توقع لرم چه انشاء الله تعالیٰ چه څنګه بشیر خان دوره کړے ده، داسے به فرید طوفان صاحب هم دوره اوکړی۔ داسے زمونږ فتح محمد خان صاحب به هم دوره اوکړی او داسے به هاشم خان صاحب هم دوره کوی او د علاقے، د عوامو، د علاقے د پسمانده کلو خدمت به اوکړی۔ د سړکونو خو زه فریاد څکه نه کوم چه هغه خو ټولے دنیا ته معلومه ده چه سړکونه خراب دی، خو هر شے په طریقه کیږی۔ امید لرو چه مینډیټ

دومره دے چه انشاء اللّٰه تعالیٰ دا ټول کارونه به په دے پېنځه کاله کښې اوکړی۔
والسلام۔ (تالیاں)

Mr. Speaker: Janab Taufeeq Muhammad Khan, MPA, please.

جناب توفیق محمد خان: بسم اللّٰهِ الرّحمٰنِ الرّحیم۔ جناب سپیکر صاحب! ډیر افسوس دے چه زمونږ ډیر ملګری نشته دے او حزب اختلاف خو بالکل نشته۔ یو نجم الدین خان حاضر دے۔ زمونږه ډیر ملګری Exhaust شوی هم دی، ستړی دی خو دا به زما بدقسمتی وی چه په دے لیټ ټائم کښې ما ته وخت سپیکر صاحب راکړو خو بیا هم زه مشکور یم۔ جناب سپیکر صاحب! تر څو پورے چه د بجټ او ضمنی بجټ تعلق دے، نو زمونږ د حزب اختلاف په رونړو باندے فرض عائد کیږی د دے قوم چه د دے ملک د ودانے د پاره هغوی ډیر په تفصیل باندے خبرے اوکړی او د هغے نه علاوه زمونږ ملګری او منسټران صاحبان د هغے جواب اوکړی۔ عبد الرحمان خان ډیرے ښکلے خبرے اوکړے۔ حقیقت دا دے چه په اسمبلو کښې هم او بهر هم تقریرونه کیږی او تجاویز هم پیش کیږی خو خبره د عمل ده۔ مونږه چه هر څومره تقریرونه په اسمبلو کښې کوؤ او Proposals پیش کوؤ او تجاویز ورکوؤ که په هغے % 5 عمل کیدے نو زما په خیال زمونږه ډیرے مسئلے به حل شوے وے۔ جناب سپیکر صاحب! د بجټ متعلق ما عرض اوکړو چه ضمنی بجټ زمونږ پیش شولو او زما چه څومره تجربه ده او ما څومره کتلی دی، نو په هر یو شعبه کښې د هر مد د پاره باقاعده پیسے اینبودے شوے دی او هغے د پاره زما په خیال باندے ما چه څومره سټډی کړے ده، نو هغے کښې زیاتے پیسے د Running کارونو د پاره اینبودے شوے دی۔ نو هغه د اپوزیشن په کریډټ کښې

خی- جناب سپیکر صاحب! د هغې په تفصیل کښې نه ځم، څکه چه په هغې ډیر زیات تقریرونه شوی دی او وخت هم ډیر زیات کم دے- زه به راشم پلې حلقې ته، چه د کومې حلقې سره زما تعلق دے هغه پی ایف 21 دے- په هغې کښې 1/4 رقبه چه کومه ده، هغه Irrigated land سره تعلق لری او باقی 3/4 رقبه کښې ډیرے لوئے لوئے او عظیم کلی دی لکه بابوزئ، میاں خان، سنګاهو، خرکې، کوهې، دا ډیره لویه آبادی ده چه کومه د اوچې سره تعلق لری او هغه پهاړی علاقه هم ده- جناب سپیکر صاحب! د ایریګیشن منسټر صاحب موجود دے او د ایګریکلچر منسټر صاحب هم موجود دے، زه دوئ ته ستاسو په وساطت دا خواست کوم چه زمونږ د حلقې پینځیس هزار ایکړه زمکه اوچه ده، سټر هزار جریبه زمکه اوچه پرته ده- د دے هومره بهترینه زمکه په دے ټوله صوبه کښې نشته دے- پنځوس کاله اوشول او د هر چا حکومت راغلے دے او زیات په دے کښې د پیپلز پارټئ حکومت راغلے دے چه هغوی خان ته عوامی حکومت وائی، هغوی خان ته جمهوری خلق وائی او هغوی به دا وئیل چه مونږه روټئ، کپړا او مکان دے خلقو له پیدا کوو- ما ته دا څوک نه شی ثابت کولے چه په دغه حلقه کښې تر اوسه پورے یو ټیوب ویل هم جوړ شوے دے- جناب سپیکر صاحب! زه خواست کوم، زمونږ د ایریګیشن منسټر صاحب دوره کړے ده او هلته چه څومره زمونږ تکالیف وو، ما دوئ ته په تفصیل سره وئیلی دی- اګرچه په هغې باندے په هغه وخت مناسب چه څه وو، هغه اعلان ئے کړے دے او ما سره ئے وعده کړے ده چه زه به د بجټ نه پس د دے حلقې د پاره د ټیوب ویلو انتظام کوم، تعداد درته نه شم ښودلے خو چه زما څومره وس وی، د هغې وس مناسب به زه تاسو له انتظام

رم- جناب سپیکر صاحب! زه ستاسو په وساطت سره دا خواست کوم چه زما
حلقه چه کوم پیهور هائی لیول کینال دے، په هغے کښې څه آتهٔ هزار ایکړ
ریب زمکه ده او مهربانی دے موجوده گورنمنټ کړے ده که چرے په دغه
ل اوشی نو د شموزو د علاقے تقریباً آتهٔ هزار جریب زمکه په هغے کښې
اخی نو دا به زمونږ د پاره ډیره د خوشحالئ خبره وی که په دے عمل شروع
ی- لکه څنګه چه نور ډیمونه دی نو انشاء اللّٰه تعالیٰ زمونږ څه لږه شانتے رقبه
پکښې راځی- نو زه خواست کوم ایریگیشن منسټر صاحب ته چه مهربانی
کړی او مونږ له د ټیوب ویل انتظام هلته کښې اوکړی- د هغے نه علاوه زما
حلقه کښې ډیرے اوبه بهیږی خو په لفټ ایری گیشن سکیم هغه اوبه اوچتول
اړی او په نهرونو کښې اچول غواړی- که چرے دغه اوبه راوچتے شی او
نهرونو کښې اوغورزیږی نو په نهر کښې به اوبه سِوا شی او چه اوبه سِوا
ی نو د هغے فائده به دا اوشی چه دا ملک به په خوراک کښې خود کفیل شی-
ه تاسو ته دا په دعوے سره وایم که چرے زمونږ د دغے حلقے د اوبو انتظام
شو نو دا سټر هزار جریبه زمکه ده، نو دا تاسو یقین اوساتئ چه د ټول
کستان خو نه شم وئیلے خو دا صوبه به په خوراک کښې خود کفیله شی-
جناب سپیکر صاحب! د دے نه علاوه زمونږ د سړکونو مسئله ده- زما حلقه
پی ایف-21 د کاټلنګ او د جمال گړهئ نه شروع شی او تر د خرکی، بابوزئ،
میاں‌خان، سنګاهو پورے ده او یو روډ هم صحیح نه دے- جناب سپیکر
صاحب! په هاؤس کښې اوس احمد حسن موجود دے، د شیرپاؤ د حکومت په
وخت کښې د دے روډ د پاره پیسے منظورے شوے وے، د چیچار نه شروع
شی تر سنګاهو پورے دا بیس کلومیټر لار ده چه په هغے څه ورځے کار

کلی یاد کړل بابوزئی، میاں خان، سنګاؤ، شموزئے، پیپل او خرکی، په دے کښې د څکلو د اوبو مونږ سره درک نه لګی۔ مونږ سره خدائی چینے دی او هغه چینو باندے هغوی ګزاره کوی یا چرته پبلک هیلتھ والا هغه وران او مات ګوډ سکیمونه ئے جوړ کړی دی چه اکثرئے پانپ مات وی او اکثر ورته بجلی نه وی، نو هغے باندے ګزاره کوی۔ تاسو دا یقین اوکړئ چه پرون سحر زه راتلم نو د پیپل کلی والو ما ته ټیلیفون اوکړو چه زمونږ هغه پائپونو کښې فرق راغلے دے او نن دریمه ورځ ده چه زمونږ د څکلو د اوبو بندوبست نشته۔ نو زه دا خواست کوم بشیر خان ته چه مهربانی اوکړئ او تاسو خپل ډیپارټمنټ ته اووایئ چه دغه علاقے ته خصوصی توجه ورکړی خکه چه مونږ سره د څکلو اوبه نشته۔ دا څومره کلی چه سپیکر صاحب، ما تاسو ته مخکښې ونیلے دی نو دے کښې قدرتی چینے دی او دا د غر چینے دی او په هغے باندے زمونږه خلق ګزاره کوی او چه کله باران اونشی نو هغه اوبه اوچے شی۔ دا یو ډیر اهم خبره ده خکه چه د ژوند د پاره اوبه ډیر ضروری شے دی۔ چه اوبه نه وی نو هلته ژوند نه تیریږی۔ زه ستاسو ډیر مشکور یم چه تاسو زما دا خبرے په توجه باندے واوریدے او زه دا یقین لرم چه انشاء اللّٰه تعالیٰ په دے باندے به عمل کیږی۔ ډیره مهربانی۔

<u>جناب شیر زمان شیر</u>، جناب سپیکر صاحب! توفیق خان اووئیل چه په یو بهتئ باندے ساړهے چھ هزار روپے خرچ کیږی، نه جی ګیاره هزار روپے خرچ پرے کیږی۔ زه صرف د دے پاره اودریدم۔ اوس پرے ګیاره هزار روپے خرچ کیږی او بل دا پیپل کلے چه ئے اووے، نو دا د پیپلز نه دے، دا پخوانے نوم کیخودے شوے دے۔ ده په دے میز اوډبولو۔

جناب سپیکر، دا ما سره څومره لسټ چه وو نو هغه ختم شو- بعضے بعضے کسان داسے وو لکه د پیر محمد خان نمبر پرون وو خو ده وئیلے وو چه زه به پکښ خبرے نه کوم خو اوس دے کول غواړی، نو لږ یو منټ کینئ، زه خبره کوم که بعضے داسے څوک ممبر پاتے شوے وی د څه وجے نه نو یو پینځه منټه واخلئ- د پیر محمد خان نمبر پرون وو خو وئیلی ئے وو چه نه به وی خو خیر نن به یو پینځه منټه دوئ هم واخلی- نو داسے که لس پنځلس منټه واخلئ ځکه چه بیا به فنانس منسټر Winding کوی او ناوخته هم دے- نن پکښ ټی بریک هم او نه شو- زمونږ دا مطلب وو چه دا به زر ختم شی- اوس ستاسو خوښه ده خو زما خیال دے پیر محمد خان، تاسو خبره اوکړئ نو بیا به د هغے نه پس که -----

جناب پیر محمد خان، شکریه، جناب سپیکر صاحب- بسم الله الرحمٰن الرحیم- تقریرونه خو اکثر مونږ کړی دی، واقعی دوئ ته موقع داسے ډیره نه وه ملاؤ شوے او ستاسو دوئ سره ډیره مهربانی اوکړه- د ډیر غټ زړه خاوند یئ- د روژے میاشت تیره شوے وه او د اختر په ورځ باندے ملا تقریر کوؤ او د روژے د میاشتے فضائل ئے بیانول- وئیل ئے چه یو شپه پکښ داسے ده چه د زرو میاشتو هومره ثواب دے پکښ- خو زمونږ د یو مشر نه صبر او نه شو او وئیل ئے چه په اول سر کښ د نه وئیل نو هغه ئے وهلے وو په هغه خبره- تاسو ډیر صبر اوکړو، ډیره مهربانی- ځکه چه بجټ خو ختم شوے دے او پاس شوے دے- هغه هر څه اوتړلے شو- ضمنی بجټ باندے څه خاص خبرے او نه شوے- حاجی عدیل چه نن ئے هم خبرے اوکړے، هغه زما ډیرے خوښے شوے- زما سره چه کوم پوائنټس په نوټس کښ وو، نو هغه کښ

پولیس باندے لږ خرچ زیات شوے دے او په ضمنی بجټ کښې زما په خیال په ایډمنسټریشن باندے هم خرچ زیات شوے دے۔ عدیل پکښې ډیرے تفصیلی خبرے اوکړے خو زما به دا خواست وی جناب سپیکر صاحب، شارټ کوم خبره، چه تر څو پورے د دشمن مورچه چه موجود وی نو که هر څومره جنګونه که د هغه سره کوے خو چه مورچه نے ختمه شوی نه وی، نو دے به بیا حمله کوی او بیا به شکست سړی له ورکوی۔ د حکومتونو دا جنګونه که کیږی او که په کلوکښې پخوا زمونږ د مشرانو به کیدل نو زمونږ مشرانو به د یو بل ګهرې نړه ولے۔ ولے چه تر څو پورے به ګهرے قلعه چه به د دشمن چا نه وو نړولے نو تر هغے پورے به نے شکست نه شو ورکولے۔ دغسے که د دوو ملکونو جنګ وی نو چه څو پورے یو ملک د دشمن هغه مورچه ختم کړی نه وی نو تر هغے پورے هغه ملک له شکست نشی ورکولے۔ دے به ډیر لګیا وی، اخو دیخوا به کوی خو هغه به وخت نا وخت حمله کوی۔ جناب سپیکر صاحب! چه د دے پیښبور ښار نه بچے اغوا کیږی، مشر اغوا کیږی یا زنانه اغوا کیږی د پیسو په لین دین کښې لکه دوئ چه اوونیل ټوله فیملی پکښې اغوا کیږی، نو دا څومره زیاتے دے۔ بار بار دا خبره راغی او نن هم په اخبار کښې راغلی دی۔ کوهاټ روډ، کرپه ورته وانی، هغے سره زمونږ د مینګورے بس نے لوټلے دے، د کراچئ نه راتلو۔ خدائے خبر چه زمونږ د سوات د څومره خلقو، زنانه او د بچو به بے غزتی شوی وی، چا به وهل ټکول خوړلے وی، مزدورئ له تلی وو او د هغے خائے نه سوات ته راتلل، نو په لاره کښې اولوټلے شو۔ اوس دا ټولے خبرے داسے دی جناب سپیکر صاحب، چه د دے تعلق د انتظامیے او پولیس سره دے، خرچه پرے ډیره

کیږی- تر څو پورې چه علاقه غیر زمونږ په دې ملک کښې موجود وی نو د دې مثال د هغه مورچو دې، چه ختم کړې دې نه وی نو دا امن به څنګه راځی؟ په یو ملک کښې دننه بل ملک سړی ته جوړ وی، ما خو دا خبره مخکښې هم کړې ده چه یا خو ئې بالکل آزاد کړئ چه جدا ملک شی یا ئې بفر سټیټ کړئ، د افغانستان او زمونږ په مینځ کښې به ځان له سټیټ وی، هغوی به ځان له خپل امن امان راولی- په ملک کښې دننه دلته کښې اخوا دیخوا ایجنسئ دی- سوات ته چه ځې، په لاره کښې ایجنسی ده که دیخوا کوهاټ سائډ ته ځې نو لاره کښې ایجنسی ده که اخواه ته هزارې ته ځې، کالا ډهاکه پکښې ایجنسی ده یعنی په ملک کښې دننه ایجنسئ دی او چاپیره ترې مونږه یو- خو په دې پالیسئ مونږه نه پوهیږو چه تر قیامت د ورځې پورې، پنځوس کاله اوشو، د یو صاحب، د یو بیوروکریټ مخکښې ما دا خبره اوکړه چه څو پورې دا ایجنسیانې ختم شوې نه وی نو امن امان نه شی راوستې او دا ایجنسیانې چه تر څو پورې دی، نو هغه قومونه هم ترقی نه شی کولې ځکه چه هلته په صحیح طریقه باندې نه څوک سرکونه جوړه وی، نه ئې نمائندګان شته او نه په صحیح طریقه باندې څوک تعلیمی سهولتونه ورکوی- د سکولونو د کالجونو او د اوبو سهولتونه هم نشته- علاقه غیر ته مونږه تلې وو نو د هغوی ټول کارونه د هغوی زنانه غریبانانو کول- د لرې لرې نه به ئې لرګی راوړل په خپل سر باندې، د اوبو منګی به ئې په سر راوړل او هغوی ته څوک هم سهولت نه ورکوی- عوامو ته ئې څه خیر نشته بغیر د مخصوصو یو څو ملکانانو نه- سپیکر صاحب! ترڅو پورې چه دا سنټرې ختم شوې نه وی او Settled area شوې نه وی نو نه هغه قوم ترقی کولې شی او نه دا امن

امان راتلے شی۔ دا پیښور زمونږ د ټولے صوبے مرکزی ښار دے او مونږ ټوله صوبه دلته کښې راځو۔ دا زمونږ اسمبلی هم دلته کښې ده او د صوبے هغه ټولے مرکزی دفترے هر څه دلته کښې دی۔ چه دلته کښې یو ښهری ته امن نه وی حاصل نو زه خو د بهر نه یو ښهری راځم نو ما ته به څه امن او تحفظ حاصل شی؟ ما ته هم پته نه لګی چه د دے ځائے نه زه اوځم نو په کومه غاړه به مے اغوا کوی؟ نن حاجی عدیل ډیره لویه دلیری اوکړه چه تقریر ئے اوکړو۔ تر اوسه خو دوئ غلے شوی وو۔ زما خو دا خیال راغے دوئ په دے وجه د دوئ نوم نه اخلی چه خپل سر باندے یریږی چه هسے نه چه مونږ ورسره اغوا کړی او حقیقت هم دے۔ جناب سپیکر صاحب! زه دا خواست کوم دے حکومت ته چه د دے نه غټ مینډیټ بل چا له هډو راتلے نشی۔ مخصوص خلقو ته مراعات دی چه هغوی په دے کښې هغه سیکرټ فنډ یا څه چه راځی، هغه خرد برد کیږی۔ هغه صاحب اووئیل چه نه څه تادی نه ده پکار په دے Absorption باندے، لږ غوندے وخت ورله پکار دے چه لږ Delay شی او داسے زر Merge نه دی پکار۔ نو ما اووئیل چه پنځوس کاله خوئے اوشو او لکه تا له اوس نور پنځوس کاله پکار دی۔ د خدائے مسلمانه، تا ته تکلیف نه دے، صبا به ته ریټائر شے، دلته په دے پیښور کښې به ته اوسیږے او ستا بچی به خلق اغوا کوی۔ دا افسران اغوا کیږی نه او مړه کیږی نه؟ او یو نے پکښې مړ کړے نه دے؟ د دے مستقل حل پکار دے۔ د هغه خلقو د ترقئ د پاره سوچ پکار دے چه هغه قوم ترقی اوکړی ځکه چه هغه غریبانانو ته هم ډیر تکلیف دے، هیڅ سهولت ورته نشته۔ د ټوپک دا اوسپنه، دا ګیډے نے په اوګه ایخودے وی او هغه ګرځوی۔ عوامو ته ترے هیڅ فائده نشته او مونږ قوم ته ترے ډیر مشکلات دی۔ حکومت

